
مسلم
د خالد بن وليد رضي الله عنه
ژوند او جهادي کارنامې
Ketabton.com
ليکوال
عمر شاهين

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

مسلم
خپرندویه ټولنه

## کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د خالد بن ولید رضي الله عنه ژوند |
| لیکوال | عمر شاهین |
| خپرندوی | مسلم خپرندویه ټولنه – جلال آباد |
| چاپ وار | لومړی |
| کمپوز | مصلح الدین حامد |
| چاپ شمېر | ۱۱۰۰ |
| چاپ لړ | ۱۶۲ |
| چاپ کال | ۱۳۹۴ |

د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

د ترلاسه کېدو ځای

**مسلم کتاب پلورنځی**

پته: اسحاقزی مارکېټ، لاندیني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان

اړیکشمېرې: ۰۷۰۶۲۶۲۴۶۳ - ۰۷۷۶۰۰۶۴۱۶

برېښنالیک: muslim-pub@yahoo.com

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| نوم اونسب يې | ۳ |
| د خالد رضي الله عنه اسلام | ۴ |
| د مؤته غزا | ٦ |
| د مکې فتحه | ۸ |
| د بت ماتول | ۱۳ |
| د اسلام تبليغ | ۱۳ |
| د حنين غزا | ۱۳ |
| د طايف محاصره | ۱۵ |
| د تبوک غزا | ۱٦ |
| اکيدر | ۱۷ |
| د اسلام د بلونکي په حيث د خالد رضي الله عنه تاکل | ۱۸ |
| خالد رضي الله عنه د ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په دوره کې | ۱۹ |
| د طليحه بغاوت | ۲۱ |
| ام زمل | ۲۳ |
| مسيلمه | ۲۵ |
| د يمامې جګړه | ۲٦ |
| د مسيلمه قاتل | ۳۱ |
| بهرنۍ حملې | ۳۲ |
| د عراق په لورې پرمختګ | ۳۳ |
| عراق ته د خالد رضي الله عنه روانيدل | ۳۴ |
| له هرمز سره مقابله | ۳۵ |
| د ذات السلاسل کاظمه جګړه | ۳۷ |

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| حصن المراة | ۳۸ |
| د ثنا د ویالې جګړه | ۳۹ |
| دولجه جګړه | ۴۱ |
| د الیس جګړه | ۴۲ |
| د حیره د خلکو بغاوت | ۴۳ |
| الانبار | ۴۵ |
| عین التمر | ۴۷ |
| د دومة الجندل فتحه | ۴۹ |
| حصید ، حنافس او مضیح | ۵۱ |
| د حصید جګړه | ۵۲ |
| د مضیح جګړه | ۵۳ |
| د ثنی او بشر فتحه | ۵۴ |
| د فراض جګړه | ۵۵ |
| پر شام باندې حمله | ۵۷ |
| د دمشق جګړه | ۵۸ |
| د دمشق فتحه | ٦۱ |
| د شام عامل | ٦۲ |
| د خالد رضي الله عنه غزل | ٦۴ |
| د خالد رضي الله عنه وفات | ٦۷ |
| ماخذونه | ٦۸ |

ketabton.com - The Digital Library



# سریزه

الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی امام النبین وقائد المجاهدین سیدنا محمدٍ وعلی اله واصحابه ومن سار علی نهجهم وسلک طریقهم وجاهد في سبیل الله الی یوم الدین امابعد!

درنو لوستونکو!

د نړۍ تاریخ د حق او باطل په بې شمېره جګړو شاهد دی ، په دې جګړو کې د بري او ماتې معیار د اسلام د یو ستر پوهاند د وینا په اساس په سلو کې پنځه اویا فیصده د جنګیالیو په عقیده، هدف او مورال پورې اړه لري، د اسلام د د تاریخ پیښې او د خالدبن ولید رضي الله عنه حیرانوونکي کارنامې زموږ د خبرې تائید او ملاتړ کوي.

د پورتنیو خبرو د تائید لپاره د دې وړوکي تاریخي اثر پیښې هم کافي دي ، خو زه د مثال په توګه د هغه وخت د مسلمانانو د جنګي روحیې د ځرګندونې لپاره د خالد رضي الله عنه د هغه لیک یو برخه رانقلوم چې د فارس د پاچهۍ د یوه سپه سالار هرمن په نامه یې لېږلی و، (پر داسې وخت له ځانه پرته هېڅوک هم مه ملامتوه ځکه ما له ځانه سره داسې خلک راوستي دي چې پر مړینه او شهادت دومره مین دي څومره چې تاسې د ژوند په خوږو مین یئ) دا د هغه وخت د مسلمانو مجاهدینو د اسلامي عقیدې او مورال یو غوره مثال دی او د هغوی د بري راز په همدې کې نغښتی وه ، په شهادت مین قوم تل ازاد او کامیاب وي ما په همدې هیله د دې اثر مطالب راټول کړي دي چې زموږ سر ښندونکو مجاهدینو ته د هغه اتلانو د اتلولۍ او سر ښندنې انځور مخې ته ودرېږي، چې په خپلو سپېڅلو وینو یې د روم او فارس امپراطورۍ د جاهلې نظامونود تیارو په

ketabton.com - The Digital Library



وړاندې د اسلام د ازادۍ ښښونکې نظام مشال بل کړ او دا هم ورته څرګنده شي چې د هغه وخت د يو موټې مسلمانانو د بري راز چې د روم او فارس د امپراطورۍ کمپله يې ورټوله کړه په څه کې نغښتې وه ، هغوی يو مخ د قران کريم د دې ايت مصداق وه:

﴿كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ .(البقره: ۲۴۹)

ژباړه: ډېر ځله داسې شوي دي چې يو وړوکی ټولګی د الله په امر پرېروې لوېې ډلې بر لاس شوی دی.

د هغه وخت د مسلمانانو د کاميابې راز په سرښندنه ، صبر، استقامت، يووالي او ثبات کې نغښتی و.

که زمونږ اتل مجاهدين د الله تعالی په لاره کې ځانونه د دې صفاتو په وسيله سنبال کړې نو د مرستې ، فتحې او کاميابۍ ضمانت يې الله جل جلاله کړی دی نور به د ختيځ او لويديځ د فرعونې او صليبې ځواکونو له وحشت ، بربريت د وسلو او ځواکونو له ډېرښت څخه به هېڅ انديښنه ونه لري.

او په پای کې له تاسو محترمو لوستونکو څخه هيله کوم که چېرته مو په دې کتاب کې نيمګړتيا وليدله نو د مهربانۍ له مخې يې مسلم خپرندويې ټولنې ته وسپارئ چې په راتلونکې چاپ کې يې اصلاح کړي خپله سريزه د يو شاعر په دې شعر رانغاړم چې وايي:

تـــورې ډېـــرې دي خـــو زره د خالـــد غـــواړي
تـــه خالـــد بـــن وليـــد شـــه جهـــان ســـتا دی

په درنښت
عمرشاهين

ketabton.com - The Digital Library



# نوم او نسب یې

نوم یې خالد رضي الله عنه کنیه یې ابوسلیمان دی او د محمد صلی الله علیه وسلم له خوا نه ورته په جګړو کې د بې سارې زړورتیا او سربښندنې له امله د سیف الله (د الله جل جلاله توره) لقب ورکړ شوی وه، دغه نومیالی او اتل صحابي له هجرت نه شل کاله د مخه په مکه مکرمه کې زیږیدلی وه. د ۴۱ کلونو په عمر د حمص په ښار کې ۲۱ هجري کې وفات شو، د نسب لړۍ یې په لاندې ډول ده: خالد بن ولید بن مغیره بن عبدالله بن عمرو بن مخزوم بن یقظه بن تمیم بن کلاب بن مره بن کعب بن لوئ بن غالب بن فهر بن مالک بن نضر بن کنانه.

خالد رضي الله عنه د عربو په یوې مشهورې قبیلې بني مخزوم پورې منسوب و. د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نیا فاطمه بنت عمرو بن عابد د خالد رضي الله عنه د غوره نیکه مخزوم د لمسي عمران بن عمرو لمسۍ وه، همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سکه ترور عاتکه بنت عبدالمطلب د خالد رضي الله عنه د سکني تره ابو امیه بن مغیره ښځه وه، دویمه ترور مبسره یې د خالد رضي الله عنه د نیکه مغیره د لمسي عبدالاسد بن هلال ښځه وه ام سلمه د رسول الله صلی الله علیه وسلم میرمن هم د خالد رضي الله عنه د تره ابو امیه لور وه، د خالد رضي الله عنه مور لبابه صغری بنت حارث هلالیه د محمد صلی الله علیه وسلم د میرمن ام المؤمنین میمونې خور وه، د خالد دویمه ترور لبابه کبری د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره عباس رضي الله عنه ښځه وه، د خالد رضي الله عنه پلار ولید بن مغیره د نوم او شتو خاوند و. سربېره پر دې یې په خپل قوم کې د پوهې او تدبیر له امله هم ښه نوم درلوده او خلکو به ورته په درنه سترګه کتل له نورو قومونو سره به چې کومه شخړه او معامله پیدا شوه نو د

ketabton.com - The Digital Library



مکې خلکو به دی د خپل او په توګه ورليږه، خالد رضي الله عنه له کوچنيوالي راهيسې ډير هوښيار او زړور و، د ځوانۍ له پيله يې له اس زغلولو، غشي ويشتلو نيزه وهلو او توري وهلو سره ډيره مينه وه او بشپړ مهارت يې پکې درلوده. چې زلمی شو نو دغه تولې ښېګړې، چې د هغه وخت د ځوانانو غوره صفات ګڼل کيدل، په ده کې تر هر چا زياتې وې. هغه په جګړه کې بالکل د لوړ فطري استعداد خاوند و تر اسلام راوړلو د مخه هم د مکې د قريشو د نظامي کمپونو انتظام، د لښکرو سامان ساتل او د سپرو د رسالې مشري د هغه پر غاړه وه. هغه دغه وظايف په ډيره ښه توګه سرته رسول، لکه څنګه چې موږ وينو د احد په جګړه کې هغه مسلمانانو ته زښت زيات زيان ور اړولی وه.

## د خالد رضي الله عنه اسلام

د حديبيه صلحې ته الله جل جلاله فتحه ويلې ده، خو دا فتحه او کاميابي د جسمونو نه بلکې د زړونو فتحه ده د اسلام د خپريدو لپاره امن پکار و او هغه د دغې صلحې په برکت د اسلام په برخه شو دا صلحه او روغه پخپله دښمنانو هم برې ګڼله. د قريشو او مسلمانانو ترمنځ چې تر دغه وخته پورې کوم جنګونه شوي دي په پوځي لحاظ په هغو کې هر ځای د قريشو په صفونو کې د خالد بن وليد رضي الله عنه نوم په ښکاره ډول ليدل کيږي، د جاهليت په زمانه کې د سپرو لښکري ده ته سپارل شوي وي، د احد په جګړه کې د قريشو د لښکرو ښوپيدلي پښې د ده په بې سارې ميړانه راټينګې شوې وې، د حديبيه په معامله کې هم د قريشو ګزمه د همدې پياوړي اتل تر قوماندې لاندې وه. خو سره له دې ټولو خبرو هم د قريشو دغه لوی سپه سالار اسلام ته تسليم شو، وايي چې د هغه ورور وليد بن وليد رضي الله عنه چې تر ده د مخه مسلمان

ketabton.com - The Digital Library



شوی وه ده ته یې لیک وراستولی وه او داسې یې ورته لیکلي وو خالده! پیغمبر صلی الله علیه وسلم له ما نه ستا پوښتنه وکړه، ته ولې نه مسلمانیږې. د دغه لیک له لوستلو وروسته خالد رضي الله عنه په همدې ورځ له مکې نه ووت او د مدینې په لور روان شو، په لاره کې د ده د جنګ او جګړو ملګری عمرو بن العاص رضي الله عنه هم ورسره ملګری شو، هغه ورنه پوښتنه وکړه چې چیرته ځې؟ ده ورته وویل: د مسلمانیدو لپاره ځم اخر تر کومه پورې؟ عمرو بن العاص ورته وویل زما هم دا نیت وه دواړه یو ځای نبوي دربار ته ورغلل او په اسلام مشرف شول، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه په مسلمانیدو په دغو الفاظو دالله جل جلاله شکر اداء کړ: الحمد لله الذي هداک في الاسلام، ثنا او ستاینه هغه الله لره ده چې ته یې د اسلام په لورې هدایت کړې په دې توګه هغه توره او د میړانې جوهر چې تراوسه د اسلام پر ضد ترینه کار اخیستل کیده د اسلام د مینې او محبت د خپرولو په لاره کې په کار واچول شو. د خالد رضي الله عنه له اسلام راوړلو نه وروسته پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه ته وفرمایل: ستانه زما همدا هیله کیده چې ته به اورمرو مسلمانیږې، خالد رضي الله عنه عرض وکړ ما له مسلمانانو سره ډیر مخالفت کړی دی له دې امله زه ښښنه غواړم، څرنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت بنیادي اصول بشریت ته د امن او سلامتیا د لارې ښودل وو نه د شخصي کینو او جګړو انتقام اخیستل نو د خالد رضي الله عنه د نه ښښلو هیڅ سوال نه پیداکیده، له دې امله پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه ته ډاډګیرنه ورکړه او له اسلام نه مخکې خطاګانې یې ورته وبښلې.

د مکې د فتحې او نیولو پر وخت چې خالد رضي الله عنه د مسلمانانو د یو ټولګي د افسر په توګه د محمد صلی الله علیه وسلم له مخې نه تیر شو نو محمد صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چې دا څوک دی؟ خلکو ورته وویل چې خالد دی، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وویل د الله جل جلاله توره ده.

ketabton.com - The Digital Library



# د مؤته غزا

مؤته په شام کې د یو ځای نوم دی چې دبلقان دې خواته پروت دی په عربو کې چې کومې شرقي تورې مشهورې دي هغه په دغه ځای کې جوړېږي.
محمد صلی الله علیه وسلم د بصري د پاچا یا د روم د قیصر په نامه یو خط لیکلی وه. د شام او عربو په سرحدي سیمو کې چې کومو عربي رئیسانو واکمني درلوده په هغو کې یو شرجبیل بن عمرو هم وه. دی د همدې بلقان سیمې حاکم او د قیصر تر فرمان لاندې و. دې عربي کورنۍ له ډېرې مودې راهیسې عیسایي مذهب منلی و او د شام په سرحدي سیمو کې یې حکمراني کوله. د محمد صلی الله علیه وسلم لیک حارث بن عمیر وړی وه، خو شرحبیل سرېېره پر دې چې لیک ته مثبت ځواب ورنه کړ هغه یې شهید هم کړ.
د حارث د قصاص او پور اخیستلو لپاره محمد صلی الله علیه وسلم درې زره لښکر تیار کړ او شام ته یې ولیږه، زید بن حارثه یې چې د محمد صلی الله علیه وسلم یو ازاد کړی مریی وه د دغه لښکر سپه سالار وټاکه او ورته ویې ویل چې که د شهادت لوړ مقام دې په برخه شو نو جعفر طیار او که هغه هم شهید شو نو عبدالله بن رواحه به ددې لښکر سپه سالاران وي، زید رضي الله عنه مریی وه خو ازاد شوی وه، جعفر طیار د علي رضي الله عنه سکه ورور و او محمد صلی الله علیه وسلم ته ډېر نږدې وه او عبدالله بن رواحه یو مخور انصار او مشهور شاعر و، د خالد رضي الله عنه په څېر نومیالی جګړن هم په دې لښکر کې و، له دې کبله خلکو په دې خبره ډېر حیران وو چې د جعفر طیار او عبدالله بن رواحه غوندې مخور او خالد رضي الله عنه غوندې توریالي اشخاص موجود و نو زیدبن حارثه په څه وجه سپه

ketabton.com - The Digital Library



سالار وټاکلی شو دا خبره په خلکو کې ډیره خپره شوه خو اسلام چې د کوم عام مساوات د ټینګولو لپاره راغلی و د هغه لپاره دغه راز قرباني او ایثار ته ډېره اړتیا وه.
که څه هم دا جګړه د قصاص لپاره وه، خو څرنګه چې د مسلمانانو د ټولو جګړو اصلي هدف د اسلام خپرول او تبلیغ وو نو له دې امله محمد صلی الله علیه وسلم هغوی ته وفرمایل:
چې لومړی هغوی اسلام ته راوبولئ، که هغوی اسلام ومانه نو جنګ ته هیڅ ضرورت نشته، کوم وخت چې دغه لښکر له مدینې نه روان شو نو جاسوسانو شرحبیل ته خبر ورکړ، شرحبیل د لښکر د مقابلې لپاره لږ و ډېر سل زره لښکر تیار کړ، له بلې خوا په خپله د روم د قیصر هرقل د قبائیلو د بې شمیره لښکر سره راغی او په مآرب کې یې چې د بلقاء په سیمه کې پروت دی واړول زید رضي الله عنه چې له دې حالت نه خبر شو نو ویې غوښتل چې محمد صلی الله علیه وسلم له دې پېښې نه خبر کړي او بیا د هغه حکم ته انتظار وکړي. خو عبدالله بن رواحه رضي الله عنه وویل چې زموږ اصلي مقصد د دغې سیمې نیول نه بلکې د شهادت لوړ مقام ګټل دي او دا شی موږ ته هر وخت په لاس راتلای شي. لندا دا چې دا لږ شمیر خلک د جنګ په میدان ور وختل او په سل زره پوځ یې برید وکړ.
په دې لړ کې زید رضي الله عنه د ډېرو غشو او نیزو ګوزارونه وخوړل او شهید شو، د زید رضي الله عنه له شهادت نه وروسته جعفر بیرغ په لاس کې ونیوه له خپل اس نه را کوز شو لومړی یې په خپله د خپل اس پښې غوڅې کړې او بیا یې په یوه داسې خونړۍ جنګ لاس پورې کړ چې په تورو توټې توټې په ځمکه ولویده او شهید شو. عبدالله بن عمرو رضي الله عنه وایي چې ما د هغه مړی لیدلی وه د تورو او نیزو (۹۰) پرهارونه پرې معلومیدل او ټول ګوزارونه یې د مخې له خوا خوړلي وو، د شا په برخه یې

ketabton.com - The Digital Library



يو داغ او تپ هم نه معلوميده، د جعفر رضي الله عنه څخه وروسته عبدالله بن رواحه د اسلام بيرغ اوچت کړ، ده هم د زړورتيا او ميړانې جوهر وښوده، خو په پاى کې دى هم شهيد کړاى شو، د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه له شهادت نه وروسته مسلمانان لږ پريشانه غوندې شول، خو ثابت بن ارقم انصاري د اسلام بيرغ را پورته کړ او ويې ويل: مسلمانانو! اوس تاسو په خپلو منځو کې د يوه تن مشري ومنئ، ټولو ورته وويل چې موږ ستا په مشرۍ راضي يو، خو ثابت ورته وويل: زه د دې کار وړ نه يم، زما په فکر خالد رضي الله عنه ددې کار لپاره وړ دى. ټولو په اتفاق سره د هغه خبره ومنله.

خالد رضي الله عنه را وړاندې شو د اسلام بيرغ يې اوچت کړ او په داسې ميړانه وجنګيده چې په يو ګوزار به يې د دښمن پوځيان ځاى په ځاى کيدل.
په صحيح بخاري کې راغلي دي چې په دغه ورځ د خالد رضي الله عنه په لاس کې اته تورې ماتې او کږې شوې، خو له دومره ميړانې سره سره هم د درې زرو کسانو مقابله له سل زرو تنو سره ډېره ګرانه وه، دا د خالد رضي الله عنه د ميړانې او تدبير نتيجه وه چې دغه لښکر روغ راخلاص شو.

## د مکې فتحه

د حديبيې د صلحې په برکت دومره وشول چې د يو څه مودې لپاره امن و امان راغى او د حرم مينانو يو ځل د دغه ابراهيمي يادګار يعنې حرم زيارت وکړاى شو.

د حديبيې د صلحې له امله د عربو په قبيلو کې خزاعه قبيله له محمد صلى الله عليه وسلم سره سوګندي شوې وه او د دوى دښمني قبيلې بنويکر له قريشو سره تړون کړى و، د دغو دواړو دښمنو قبيلو ترمنځ له ډېرو مودو

ketabton.com - The Digital Library



راهیسې جګړې روانې وې، خو کوم وخت چې اسلام را څرګند شو نو د ټولو عربو خپل ځان ته پام شو او دغه جنګونه بس شول. ځکه چې د عربو ټول ځواک اوس د اسلام په مقابله کې په کار اچول شوی وه، کله چې د حدیبیې صلحې په خلکو کې یو څه داډ پیدا کړ نو بنو بکر داسې وګڼل چې اوس د کسات او غچ اخیستلو وخت راغلی دی، له دې امله یې ناڅاپه په خزاعه حمله وکړه او د قریشو مشرانو هم په څرګنده توګه ورسره مرسته کوله، د خزاعه قبیلې خلکو له نا چارۍ نه حرم ته پناه یووړه، بنوبکر د حرم د احترام له کبله جنګ پریښود، خو د دوی لوی مشر نوفل ورته وویل چې: داسې وخت بیا تاسې ته په لاس نه شي در تلای، مطلب دا چې د حرم په سیمه کې دننه هم د خزاعه وینې توی کړای شوې، دغه وخت محمد صلی الله علیه وسلم په مسجد کې ناست وو چې ناڅاپه دا اواز پورته شو: ای الله جل جلاله ! زه به محمد ته هغه معاهده وربه یادوم چې زموږ او دده د پخوانۍ کورنۍ ترمنځ شویده ای د الله جل جلاله پیغمبره! زموږ مرسته وکړه او د الله بندګان راوبوله ټول به د مرستې لپاره حاضر شي.

پر دغه وخت د خزاعه څلوېښت تنه سپاره چې عمرو بن سالم یې مشر و فریادي راغلل، محمد صلی الله علیه وسلم چې د دوی د مظلومیت فریادونه واوریدل نو ډېر خپه شو، خو سره له دې یې هم قریشو ته استازی ولېږه او دا درې شرطونه یې ورته وړاندې کړل چې له دې شرطونو څخه دې یو ومنلای شي:

۱- د وژلیو د وینې بیه دې ورکړی شي.

۲- قریش دې د بنوبکر له مرستې لاس واخلي.

۳- دا علان دې وکړی شي چې د حدیبیه معاهده ماته شوه.

قرط بن عمر د قریشو له خوا وویل، چې یواځې درېیم شرط مو ومانه خو د استازي له تګ نه وروسته قریش پښېمانه شول او ابوسفیان یې د سفیر په

ketabton.com - The Digital Library



توګه مدینې ته ولیږه چې د حدیبیه تړون بیا نوی کړي، ابوسفیان مدینې ته ورغی او د محمد صلی الله علیه وسلم حضور ته یې خپله غوښتنه وړاندې کړه خو د رسالت دربار ورته د بد عهدۍ او بني خزاعه سره د ظلم له امله ځواب ورنه کړ د ابو سفیان سفارت له ناکامۍ سره مخامخ شو.

د اتم هجري کال د روژې میاشتې په لسمه نېټه نبوي سورلۍ په ډېر برم او پرتم د مکې په لوري وخوځیده لس زره سمبال پوځ ورسره و په لاره کې به ورسره ځای په ځای د عربو قبیلې یو ځای کېدلې، تر څو دغه لښکر مرالظهران ته چې له مکې معظمې نه یو پړاو او یا څه کم یو پړاو لرې دی ورسیده او دغلته یې دیره واچوله.

د محمد صلی الله علیه وسلم د حکم له مخې ټول لښکر ځالی په ځای جلا اورونه بل کړل او ټول ډاګ د شپې په تیاره کې روښانه ښکاریده. د لښکر د راتګ خبر د قریشو غوږ ته رسیدلی وه خو سره له دې یې هم د پوره تحقیق لپاره حکیم بن حزام د خدیجې رضي الله عنها وراره ابو سفیان او بدیل بن ورقاء یې هغه ځای ته ورواستول خو څرنګه چې ابوسفیان هلته ولیدل شو، نو عمر رضي الله عنه سمدلاسه راووت او نبوي دربار ته راغی او عرض یې وکړ چې د کفر د بېخ ایستلو وخت راورسیده خو عباس رضي الله عنه د هغه د سر د سلامتۍ غوښتنه وکړه.

د ابوسفیان ټولې کارنامې هر چاته څرګندې وې او هر یو عمل یې د وژلو لپاره کافي و. د اسلام سره بې کچه دښمني، پر مدینه منوره باندې بیا بیا حملې کول، د مسلمانانو پر ضد د عربو قبیلو راپورته کول او د محمد صلی الله علیه وسلم د وژلو پټه دسیسه. دا ټول شیان هر یو د ده د وینې بیه کیدلای شوه. خو له ټولو څخه لوړ څیز نبوي عفوه وه چې د ابوسفیان په څېر دښمن په غوږ کې یې هم ورو غوندې وویل د وېرې ځای نه دی.

په صحیح بخاري کې راغلي دي چې ابوسفیان له نیولو سره سم مسلمان

ketabton.com - The Digital Library



شو، خو په تاريخ طبري او نورو کې ددې لنډيز تفصيل دسوال او ځواب په توګه داسې راغلی دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم: څنګه ابوسفيان! اوس ستا په دې خبره پوره باور نه دی راغلی چې له الله جل جلاله نه پرته کوم بل معبود نشته.

ابوسفيان: که بل الله جل جلاله وای نو نن به زموږ بکار شوی وای.

رسول الله صلی الله عليه وسلم: ايا په دې کې څه شک شته چې زه د الله جل جلاله رسول او پيغمبر يم؟

ابوسفيان: په دې کې لږه شبهه نشته. په هر حال ابوسفيان اسلام ښکاره کړ خو ايمان يې لا ګډوډ وو. مورخينو ليکلي دي چې وروسته بيا سم مسلمان شو. رسول الله صلی الله عليه وسلم پر دغه وخت اسلامي لښکر پر درې برخو وويشه د يوې برخې مشر ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه وه او د بلې برخې زبير بن العوام رضي الله عنه و او د درېيمې برخې سپه سالار خالد بن وليد رضي الله عنه و بيا يې امر وکړ چې نبوي بيرغ دې په حجون نومې ځای ورېول شي او خالد رضي الله عنه ته يې امر وکړ چې له لښکرو سره د مکې پاسنۍ برخې ته راشي دا اعلان وشو چې هر څوک وسله کېږدي او يا د ابوسفيان ځای ته پناه يوسي، يا خپله دروازه وتړي نو هغوی ته به پناه ورکړای شي. سره له دې هم د قريشو يوې ډلې مقابلې ته ملا وتړله او د خالد رضي الله عنه په لښکرو يې د غشو وارونه وکړل چې دوه تنه يکې شهيدان شول، له دې امله خالد رضي الله عنه هم ځوابي حملې ته اړشو، د حملې په نتيجه کې د يوې شيبې وروسته مخالفينو خپل ديارلس تنه مړي په ميدان پرېښودل او خپله يې پښې سپکې کړې. کوم وخت چې محمد صلی الله عليه وسلم د خالد رضي الله عنه د تورو پرکهار وليده نو پوښتنه يې ځينې وکړه، خو وروسته چې ورته څرګنده شوه چې لومړی مخالفينو پر هغوی بريد کړی و نو ويې ويل: د الله تعالی فيصله همداسې وه، د الله جل

ketabton.com - The Digital Library



جلاله شان ته وګورئ هغه دروند حرم چې د بت ماتوونکي ابراهیم خلیل الله یادګار و اوس یې په غیږ کې (۳۶۰) بتان ایښودل شوي وو، محمد صلی الله علیه وسلم به هغه یو یو بت د لرګي په څوکه واهه او دا ایت به یې لوسته:

﴿ جَاءَ الحَقُّ وَزَهَقَ البَاطِلُ إِنَّ البَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴾. (الإسراء: ۸۱)

ژباړه: حق راغی او باطل محوه شوو او باطل یو محوه کیدونکی شی دی.

وروسته بیا محمد صلی الله علیه وسلم یوه مهمه خطبه ولوسته چې د اسلام زیات احکام په کې بیان شول.

کوم وخت چې محمد صلی الله علیه وسلم له خطبې نه وروسته حاضرینو ته وکتل نو ویې لیدل چې د قریشو غټان له ټولو نه مخکې ناست دي. په دوی کې هغه خلک هم وو چې د اسلام په بربادۍ او تباهۍ کې یې له هر چا نه زیات رېړ او کړاو ګاللی وه. هغه کسان هم پکې وو چې ښه خبره به یې له هغه مبارک سره له کنځلو او د ګلو پرته بل څه نه وه. هغه کسان هم پکې وو، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک وجود یې د تورو او نیزو ګوزارونه کړي وو، هغه کسان هم وو چې په لارو کوڅو کې به یې ورته اغزي اچول. هغه کسان هم وو چې د وعظ پر وخت به یې د محمد صلی الله علیه وسلم پوندې او پښې په وینو سرې کولې او هغه کسان هم وو چې د محمد صلی الله علیه وسلم له وینو پرته یې په بل څه تنده نه ماتیدله، هغه کسان هم ناست وو چې مسلمانان به یې په تودو شګو څملول او سینې به یې په سرو کړو مهرونو ور داغلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولو ته وکتل او په یوه هیبتناکه لهجه یې ترینه پوښتنه وکړه: تاسې څه پوهیږئ چې زه به له تاسې سره څه معامله کوم؟ دغه خلک که څه هم ډېر ظالمان، بدبخت او بې رحمه وو، خو سره له دې هم د خلکو په مزاج ښه پوهیدل، دوی ټولو په یوه غږ وویل: اخ کریم و ابن اخ کریم.

ketabton.com - The Digital Library



ته زمونږ د پر شريف ورور او ورارہ يې د محمد صلی الله عليه وسلم له خوا نه دوی ته هغه ارشاد وشو چې دده له شان سره ورو:

لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ اذْهَبُوا فَأَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ.

ژباړه: نن په تاسې هيڅ پړه نشته ځئ ولاړ شئ تاسې ټول ازاد ياست.

## د بت ماتول

د همدغه کال د روژې په مياشت کې محمد صلی الله عليه وسلم خالد رضي الله عنه د بنو کنانه قبيلې د عزی بت د ماتولو لپاره ولېږه، خالد رضي الله عنه د محمد صلی الله عليه وسلم د حکم پر اساس دغه بت ټوټه ټوټه کړ.

## د اسلام تبليغ

د مکې مکرمې له فتحې نه يوه مياشت وروسته محمد صلی الله عليه وسلم خالد رضي الله عنه د مسلمانانو د يوې کوچنۍ ډلې د مشر په توګه د بني خزيمه قبيلې خلکو ته د تبليغ لپاره استولی وه.

## د حنين غزا

حنين د مکې او طايف په منځ کې د يو ناو نوم دی، ذوالمجاز د عربو يو مشهور بازار دی چې د عرفات له غره نه درې ميله لرې دی. حنين د دغه غره په لمن کې پروت دی ځينې خلک يې د اوطاس په نامه هم يادوي، د مکې فتحه د نورو عربو قبيلو لپاره د زغم وړ نه وه، هوازن او ثقيف په عربو کې ډيرې جنګيالۍ قبيلې وې، څومره به چې اسلام بری مونده،

ketabton.com - The Digital Library



همغومره به هغوی پریشانه او وارخطا کیدل او د خپل ریاست او امتیاز د له منځه تللو وېره به ورسره ملګرې کیدله له دې امله د مکې له فتحه کیدلو نه وروسته هوازن رئیسان په عربو کې وګرځیدل او د اسلام د مخالفت جوش یې په کې را پیداکړ، دوی د عربو له ټولو قبیلو سره دا قرار داد وکړ چې په مسلمانانو یوه عامه حمله وشي، له دې امله دغو خلکو څلور زره نامتو کسان د مالک بن عوف او دریدبن الصمة په مشری د جګړې لپاره چمتو کړل. او د حنین په ناو کې راټول شول کله چې محمد صلی الله علیه وسلم له دې پیښې نه خبر شو، نو هغه هم لښکر ته د حنین په لورې د تلو حکم ورکړ، د ټول لښکر شمیر دولس زرو ته رسیده د لښکر د مقدمة الجیش مشري د خالد رضي الله عنه پر غاړه وه. مسلمانان په دغه ورځ د خپل شمیر په زیاتوالي ډیر غره شوي وو، د ځینو کسانو له خولې نه بې اختیاره دا الفاظ ووتل: نن څوک په موږ بریالي کیدای شي؟! خو د الله جل جلاله په دربار کې د دوی دغه ناز ونه منل شو.

﴿ لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّ ضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ۝٢٥ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَ اَنْزَلَ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا وَ عَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ وَ ذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ۝٢٦ ﴾.

(التوبه:٢٥-٢٦)

ژباړه: او د حنین ورځ درېه یاد کړئ چې تاسې په خپل ډېرښت نازیدلی، خو هغه مو په ښه رانغی او پراخه ځمکه درباندې تنګه شوه بیا تاسې په شا وتښتیدلی او بیا الله په خپل رسول او مسلمانانو تسلي نازله کړه او داسې

ketabton.com - The Digital Library



لښكرې يې دروليږلې چې تاسې نه ليدلې او كافران يې په عذاب اخته كړل او همدا د كافرانو سزا ده.

خالد رضي الله عنه په دومره ميړانه او سربښندنه مقابله وكړه چې ټول وجود يې د زخمونو له امله په وينو سور شو، نولس (۱۹) ځايه يې ټپونه خوړلي وو. له فتحې نه وروسته محمد صلى الله عليه وسلم په خالد رضي الله عنه پسې ګرځيده او پيا پيا به يې داسې فرمايل: كه له تاسو نه يوه تن زه خالد ته ور رسولى واى. په پاى كې محمد صلى الله عليه وسلم په ځپله خالد رضي الله عنه په داسې حال كې وموندل چې د زخمونو له لاسه بې سده پروت وو. محمد صلى الله عليه وسلم هغه ته د الله جل جلاله له درباره شفاء وغوښتله، د هغه مبارک د دعاء په بركت خالد رضي الله عنه ډېر ژر روغ رمټ شو.

## د طايف محاصره

د حنين پاتې مات شوى لښكر طايف ته پناه يوړه او هلته يې د جنګ لپاره په تياريو لاس پورې كړ. محمد صلى الله عليه وسلم د حنين د مال او د جنګ د بنديانو په باره كې حكم وكړ چې په جعرانه نومې ځاى كې دې ټول خوندي وساتل شي په ځپله يې د طايف د تلو اراده وكړه. خالد رضي الله عنه يې د لومړي ټولګي د قوماندان په صفت لومړى ليږلى وه، په دغه جګړه كې ډېر خلک ژوبل او ټپيان شول، محاصره شل ورځې اوږده شوه خو ښار فتحه نكړاى شو مسلمانان بيرته راستانه شول.

ketabton.com - The Digital Library



## د تبوک غزا

تبوک د يو مشهور ځای نوم دی چې د مدينې او دمشق ترمنځ د مدينې منورې نه تقريباً (۷۶۰) کيلو متره لرې پروت دی، د مؤته له جګړې نه وروسته رومي سلطنت په عربو د حملې اراده کړې وه، غساني کورنۍ چې په شام کې يې د روميانو تر اثر لاندې حکومت کاوه عيسايي مذهبه وه، نو ځکه د روم قيصر ورته د شام حکومت سپارلی و.

د شام د نبطي قبيلې سوداګر به د ښوونه (زيتون) د تيلو د خرڅلاو لپاره مدينې ته راتلل، دوی د مدينې خلک په دې خبر کړل چې روميانو په شام کې ډير زيات لښکر راغونډ کړی دی او د يو کال معاشونه يې ورکړي دي، په دې لښکر کې د لخم جذام، او غسان ټول عرب شامل دي او د سر ټولګی يې تر بلقا پورې را رسيدلی دی، په مواهب لدنيه کې له طبراني نه دا روايت نقل شوی دی چې د عربو رئيسانو هرقل ته په دې مضمون ليک ور استولی وه چې محمد صلی الله عليه وسلم وفات شوی دی او په عربو کې د کاختی له امله خلک له لوږې نه مري د دې ليک له امله هرقل هغوی ته څلوېښت زره لښکر را وليږه، څرنګه چې د روميانو د حملې خبر په ټولو عربو کې خپور شوی و نو له دې امله محمد صلی الله عليه وسلم هم لښکرو ته د چمتو والي حکم ورکړ. له بده مرغه دا کار په داسې وخت کې پيښ شو چې په عربو کې له يوې خوا نه سخته کاختي وه او له بلې خوا نه سخته ګرمي وه. له همدې امله محمد صلی الله عليه وسلم د عربو له ټولو قبيلو نه لښکر او مالي مرستې وغوښتې په اصحابو کې ابوبکر رضي الله عنه ټول مال او اسباب راوړ، عمر رضي الله عنه نيم مال او اسباب راوړی وه او عثمان رضي الله عنه درې سوه اوښان محمد صلی الله عليه وسلم ته

ketabton.com - The Digital Library



وراندې کړل، نورو اصحابو هم تر خپلې وسې پورې ډيرې مرستې وکړې په پای کې محمد صلی الله عليه وسلم له ديرش زره لښکر سره چې لس زره پکې اسونه وو د روميانو مقابلې ته روان شو په دغه غزا کې خالد رضي الله عنه طلحه رضي الله عنه ، عبدالله رضي الله عنه او ابن عوف رضي الله عنه د يوځ د مختلفو رسالو قوماندانان وو، محمد صلی الله عليه وسلم چې له خپل لښکر سره د تبوک مقام ته ورسيده نو هلته يې شل ورځې تيرې کړې. يوحنا د ايله سردار راغی او په خپله يې جزيه ومنله. دجريا اواذرح نومې سيمو عيسايان هم راغلل او جزيه يې ومنله

## اکيدر

په دومة الجندل کې چې د د مشق نه پنځه ميله لرې پروت دی اکيدر نومې يو عرب سردار اوسيده دی په دغه سيمه کې د قيصر له خوا نه حاکم و، محمد صلی الله عليه وسلم ، خالد رضي الله عنه له څلورو سوه سپرو سره د هغه نيولو ته ورولیږه کله چې خالد رضي الله عنه دومة الجندل ته ورسيده نو د شپې تياره خوره شوې وه. اکيدر په خپله کلا کې په عيش او عشرت مشغول و، چې ناڅاپه د کلا لويه دروازه ور ووهل شوه د اکيدر ښځې هغه ته وويل چې د دروازې تر شا يو شين ځنګلي غوايي ولاړ دی او په ښکرو يې وهي، اکيدر د ښکار ډېر شوقي وه له خوښۍ نه يې پورته توپ کړ او ژر بهر ته راووت، خالد رضي الله عنه ورته چمتو ناست وه، اکيدر چې د ښکار په نيت راوتلی وه په خپله د خالد رضي الله عنه په لاس ښکار شو، د هغه ورور حسنان يې د خلاصون هڅه وکړه خو ووژل شو بل ورور يې مصاد خالد رضي الله عنه ونيوه او د محمد صلی الله عليه وسلم حضور ته يې وليږه خالد رضي الله عنه اکيدر په دې شرط خوشې کړ چې ته په خپله د

ketabton.com - The Digital Library



محمد صلی الله علیه وسلم حضور ته لاړ شه او د صلحې شرطونه ورته وړاندې کړه، همدا لامل وه چې دی بیا له خپل وږور سره مدینې منورې ته راغی او محمد صلی الله علیه وسلم ورته امان ورکړ. په دې توګه د رومیانو حلف مات کړ او د مسلمانانو جزیې ته یې غاړه کېښوده.

## د اسلام د بلونکي په حیث د خالد رضي الله عنه ټاکل

خالد رضي الله عنه یواځې د تورې او جګړې اتل نه و بلکې په خطابت کې یې هم ډېر مهارت درلوده، په هغه وخت کې د خطابت فن هم د جګړې او حرب یو ستر توب ګڼل کیده د عربو ستر ستر جنګیالي وژل شوي وو او پاتې نور یې ډله ډله اسلام ته داخلیدل، یواځې د ګوتو په شمیر یو څو قبیلې پاتې وې چې هغوی ته هم د اسلام دعوت او بلنه ورکول کیدله.

له همدې امله محمد صلی الله علیه وسلم خالد سیف الله رضي الله عنه د بنو حارث بن کعب بن مدحج د لاربښوونې لپاره وروليږه د هغه د اغيزمنو خطبو نتيجه دا شوه چې د بنو مدحج ستر ستر سرداران پخپله مدينې ته راغلل او اسلام يې ومانه.

تر دغه ماموريت وروسته محمد صلی الله علیه وسلم خالد رضي الله عنه د يوې تبليغي ډلې په مشرۍ بنو عبدالمدان نجراني ته د اسلام د دعوت لپاره وليږه او تاکيد يې پرې وکړ چې توره دې بايد په تيکي کې وي، تر څو دې مقابل لوری مجبور نه کړي بايد کار ترينه وانخلې. خالد رضي الله عنه له خپلې ډلې سره کور په کور وګرځیده او خلک يې د حق لور ته رابلل، د هغه د بې سارې تبليغ په نتيجه کې توله قبيله په اسلام مشرفه شوه او د نبي کريم صلی الله علیه وسلم حضور ته راغله. د لسم هجري کال په آخر کې رسول کريم صلی الله علیه وسلم د يمن ختيځ او لويديځ لورې ته يوه يوه

ketabton.com - The Digital Library



ډله د علي او خالد رضي الله عنه په مشرۍ ولیږله او بیا یې ورته یادونه وکړه چې په کفارو یواځې هغه وخت حمله وکړي چې لومړی هغوی دربانديې برید وکړي. کله چې هغوی ته تبلیغ وشو نو په ځواب کې یې په خالد رضي الله عنه او د هغه په ملګرو د خښتو او تیږو باران جوړ کړ، خالد رضي الله عنه له ناچارۍ نه د مقابلې لپاره را وواته خو وروسته بیا هغوی پخپله اسلام ومانه.

## خالد رضي الله عنه د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په دوره کې

د رسول صلی الله علیه وسلم له وفات نه وروسته، ابوبکر صدیق رضي الله عنه د مسلمانانو د لومړي خلیفه په توګه وټاکل شو له دې سره سم یو شمېر منافقانو هرې خواته د بغاوت اعلان وکړ، د هغوی شورش او فتنه اچول ډېر خطرناک اقدام وو، خو ابوبکر صدیق رضي الله عنه د پخې ارادې او حوصلې خاوند انسان و، د هغه د عمر زیاته برخه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره تیره شوې وه، له همدې امله یې پر حق باندې په ثبات او ټینګکار کې د ذرې هومره کمښت هم را نغی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلیفه یوولس جنډې جوړې کړې او د یوولس سربښندونکو صحابه وو ته یې ورکړې.

د یوې ډلې بیرغ یې خالد رضي الله عنه ته په لاس ورکړ او د طلیحه د ځپلو لپاره یې ولیږه.

د دویمې ډلې بیرغ یې عکرمه بن ابوجهل ته ورکړ او د مسیلمه بن کذاب مقابلې ته یې ولیږه.

د درییمې ډلې بیرغ یې مهاجرین بن امیه رضي الله عنه ته ورکړ او ورته وېې فرمایل چې ته یمن ته د اسود عنسي د سر غړوونکي لښکر د ماتولو لپاره لاړ شه، له هغه نه چې وزګار شوې حضرموت ته لاړ شه د بني کنده

ketabton.com - The Digital Library



سرغړوونکي هم ښه زبون کړه.
څلورم بيرغ يې خالد بن سعيد ته ورکړ ورته ويې ويل چې ته د شام پولو ته لاړ شه او د هغه ځای سرغړوونکي قبائيل سمې لارې ته راوبله.
پنځم بيرغ يې عمرو بن العاص رضي الله عنه ته ورکړ او د بني قضاعه په لور يې وليږه چې د شمال او لويديځو سيمو عرب وو. دغه خلک له هغو قضاعه وو نه بېل و چې د شام په شا و خوا کې يې استوګنه غوره کړې وه.
د شپږمې ډلې بيرغ يې حذيفه بن محسن الغطفايې ته ورکړ او د اوبا د خلکو مقابلې ته يې ورووليږه.
اووم بيرغ يې عرفجه بني يرتمه رضي الله عنه ته ورکړ او د مهره قبائيلو ته يې ورووليږه او دا يې هم ورته وويل چې وړاندې لاړې نو ته او حذيفه رضي الله عنه سره يو ځای شئ.
د اتمې ډلې بيرغ يې شرحبيل بن حسنه ته ورکړ او ورته ويې ويل چې ته په عکرمه بن ابوجهل پسې ورو ورو ورځه کله چې له مسيلمه نه فارغ شوئ نو د بني قضاعه په لور لاړ شئ.
نهم بيرغ يې معن بن حاجز رضي الله عنه ته ورکړ، هغه يې د بني سليم او د هغوی هم فکره ملګرو هوازن په لور وليږه.
لسم بيرغ يې سويد بن مقرن رضي الله عنه ته ورکړ او ورته يې وفرمايل: چې ته د يمن د تعاما نومې سيمې په لور لاړ شه.
يوولسم بيرغ يې علاء بن الخضرمي رضي الله عنه ته ورکړ او بحرين ته يې وليږه.
دلته په خاصه توګه دغه خبره د يادونې وړ ده چې دغو ټولو ځايونو ته ابوبکرصديق رضي الله عنه د خپلو استازو په لاس په دې مضمون باندې ليکونه وليږل چې د اسلام دين ومنئ او سمې لارې ته راشئ که نه نو د خپل ارتداد له انجام نه و ډار شئ.

ketabton.com - The Digital Library



# د طلیحه بغاوت

په سر غړوونکو قبائیلو کې تر ټولو خطرناک شورش د طلیحه وه چې د بني طی، جدیله او غوث قبیلې یې هم له ځان سره یو ځای کړې وې، د دغو قبیلو ځینې خلک سمدلاسه ورسره ملګري شول او ځینې نورو ورسره د یو ځای کیدو وعده کړې وه. طلیحه ډېر مکار او چالاکه سړی وه، هغه په دروغو د نبوت دعوه کړې وه، د لوټ او شوکې ډېر لېوال خلک ورسره یو ځای سره شوي وو د عدي بن حاتم په واسطه باندې د بني طی او جدیله قبیلو د هغه ملګرتیا پرېښوده او له مقابلې نه پرته یې اسلام ته غاړه کېښوده. خالد رضي الله عنه له خپل لښکر سره د طلیحه په لور روان شو، هغه له ځانه مخکې د انصار دوه نومیالي صحابه عکاشه بن محصن او ثابت بن اقرن د خپل پوځ مشران کړل او د مخه یې ورولیږل، له هغې خوانه د طلیحه ورور جیال پر دوی حمله وکړه، خو دواړو نومیالیو په ډېر ثبات او میړانه ورسره مقابله وکړه د جګړې په پای کې جیال ووژل شو، نورو ملګرو یې چې هغه دا حال ولیده د هغه سړی یې په میدان کې پرېښوده او خپله په تېښته وتښتیدل، طلیحه د ورور په مرګ ډېر خواشینی شو په ډېره غوسه یې له خپل بل ورور مسیلمه سره د اسلام په لښکر یرغل وکړ، د اسلام نومیالي اتلان عکاشه او ثابت په دغه جګړه کې شهیدان شول، تر څو چې خالد رضي الله عنه را رسیده نو طلیحه د اسلام لښکر ته له زیان رسولو وروسته بیرته ستون شوی و، خالد رضي الله عنه د طلیحه په دغه عمل له غوسې نه تاو راتاو کیده په همدغه حال کې بزاخه ته ورسیده. طلیحه همغلته موجود و دواړو لښکرو خپل صفونه جګړې ته برابر کړل د عربو مشهور پهلوان عینیه بن حصن هم له طلیحه سره وو، د هغه تر مشرۍ

ketabton.com - The Digital Library



لاندې اوه سوه فراریان په نهایت میړانه جنګیدل، طلیحه یو څادر پر سر اچولی وه او د لښکر شاته ولاړ وو، تر ډېره څنډه پورې د دغې جګړې کومه نتیجه را ونه وتله اخر عینیه په تنګ شو او له طلیحه نه یې پوښتنه وکړه، مهرباني وکړه ووایه چې تاته جبرائیل راغلی او څه یې درته ویلي دي که نه، طلیحه ورته وویل چې تر اوسه دی نه راغلی مسلمانانو په ډېر جوش او څوړ سره د خالد رضي الله عنه تر مشرۍ لاندې حمله کوله، د جنګ د دوام په نتیجه کې د طلیحه ملګري بې زړه شول د جګړې فشار شیبه په شیبه پرې زیاتیده اخر عینیه بیا ورغی او پوښتنه یې ترینه وکړه چې جبرائیل راغلی دی که نه، زموږ خو به اوس هر څه پای ته ورسي، هغه ورته وویل هو راغلی و او داسې یې راته وویل:

ان لک رحاً کرحاه و حدیثاً لا تنساه.

ژباړه: تاسو هم له داسې سختې جګړې سره مخامخ یئ لکه څنګه چې مسلمانان دي او دې جګړې پېښې به مو هیڅکله هیرې نشي.

عینیه چې د هغه دا خبره واوریده نو له غوسې نه یې اور واخیست او چیغه یې کړه:

قد علم الله ان سیکون حدیث لا تنساه.

ژباړه: بې له شکه الله جل جلاله ته څرګنده ده چې څو شیبې وروسته به داسې پېښې منځ ته راشي چې هیڅکله به یې هیرې نکړئ. په پای کې عینیه له ډېر نهیلۍ نه د خپلې قبیلې خلکو بني فزاره ته یې ناري کړې ای بني فزاره! بس دی، بیرته لاړ شئ، دا سړی پیغمبر نه دی بلکې یو مفسد، حیله باز او درواغجن انسان دی بني فرازه چې هسې هم له جګړې نه په تنګ شوي وو د خپل سردار دا خبره یې چې واوریدله نو په منډه یې پیل وکړ د هغوی له تیښتې سره د طلیحه لښکر هم ماتې وکړه، طلیحه خپله ښځه فوار نوار له ځان سره په اس سوره کړه او اس ته یې پونده ورکړه د تیښتې

ketabton.com - The Digital Library



په حال کې يې خپل لښکر ته وويل: اى خلکو! په دا چې زما په څېر حال راشي نو زما په څېر دې خپله خپله جوړه له ځان سره وتښتوي طلیحه چې د جګړې له میدان نه اس ته پونده ورکړه نو ایله د شام په سرحد کې له اس نه راکوز شو او دمه يې وکړه او په بني کلب کې يې استوګنه غوره کړه، په دې توګه د طلیحه ټول لښکر تیت اوبرک شو او د نبوت له ادعا نه يې لاس واخیست څه موده وروسته هغه ته څرګنده شوه چې هغه ټولو قبائیلو چې د هغه اطاعت يې منلی و، بېرته اسلام ته غاړه ایښې ده نو ده هم له سره اسلام ومانه کله چې عمر رضي الله عنه خلیفه شو نو طلیحه هم د بیعت لپاره راغی، عمر رضي الله عنه د هغه له لیدو سره سم وفرمایل: ته د عکاشه او ثابت په څېر صحابه و قاتل يې، زما زړه هیڅکله درته سپین کیدای نه شي طلیحه ورته وویل: امیرالمؤمنین! ته د هغوی په هکله ولې دومره اندېښمن يې؟ الله جل جلاله زما په لاس هغوی د عزت او درناوې لوړ مقام ته ورسول شهادت يې ور په برخه کړ، خو زه يې هم د هغوی په لاس ذلیل او رسوا نه کړم عمر رضي الله عنه له دې خبرې وروسته د هغه بیعت ومانه او ورته ويې ويل: اى دوکه کوونکيه! کهانت او (چل بازۍ) څه شوه؟ هغه ځواب ورکړ امیرالمؤمنین! هغه پای ته ورسیده، له عمر رضي الله عنه نه چې راستون شو نو خپل قوم ته راغی، وروسته يې بیا د عراق په جګړو کې له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه سره په ډېره میړانه برخه واخیسته.

## ام زمل

ام زمل یوه ډېره ښکلې ښځه وه د بنو غطفان قبیلې د سردار مالک بن حذیفه لور وه، د هغې مور ام قرفه د رسول الله صلى الله علیه وسلم په وخت کې وژل شوې وه او ام زمل د وینځې په توګه بي بي عایشې ته ورکړل شوې

ketabton.com - The Digital Library



وه، خو هغې بیا ازاده کړه، د مور د قتل پېښې یې په زړه کې اور بل کړی وه، له همدې امله، هغې سره هم د پیغمبرۍ د دعوې هوس پیدا شوی وه، ځکه په دې توګه یې کولای شول چې خپل کسات واخلي، د هغې د بې ساري ښکلا او حسن له امله یو زیات شمیر ځوانان پرې را ټول شوي وو، یو شمیر مرتدې قبیلې هم ورسره ملګرې شوې وې، هغه د خپل لښکر په ځواک ډېره مغروره وه، او په دې خبره هم ډېره نازیدله چې د خپل حسن په جادو سره ډېر ستر ستر اتلان د ځان تابع کولای شي.
خالد رضي الله عنه چې د دغې ښایسته بلا له حاله خبر شو نو له خپل لښکر سره ور روان شو، کله چې د هغې استوګنځې ته ورننوتې شول، نو هغه د مقابلې لپاره چمتو وه، دواړه لښکرو د جګړې لپاره صفونه برابر کړل او جګړه پیل شوه، ام زمل په یوه اوښه سپره وه او د جګړې د میدان په منځ کې ولاړه وه، پلویان یې د اوښې له یوې او بلې خوانه را چاپیر شوي وو، په ډېر ثبات او میړانه جنګیدل جګړه به چې هر څومره سختیدله د ام زمل پلویانو به هم همغومره ثبات او میړانه ښودله او هغې به هم ورته پاروونکي وینا کوله او جګړې ته به یې هڅول اخر مسلمانان په دې پوه شول چې تر څو پورې د ام زمل او ښه ولاړه وي دا جګړه به همداسې روانه وي، له همدې امله د اسلام نومیالیو اتلانو د ام زمل د اوښې په لور حمله وروړه د هغې شاوخوا جنګیالي یې تارو مار کړل، په پای کې مسلمانانو د دې مرتدې ښځې د اوښې تانګونه پرې کړل او دا یې پر ځمکه را وغورځوله ام زمل چې د اوښې له کجاوې نه را وغورځیدله نو، د کوم مسلمان په لاس ووژل شوه، ملګرو یې چې د ښکلا بت نسکور ولیده نو دوه یې خپلې کړې او دوه پردې، په یوه شیبه کې له میدانه ترې تم شول، په دې توګه د دې شورش اور مړ شو او د عربو له شمال ختیځې برخې نه د ارتداد کمپله ټوله شوه.

ketabton.com - The Digital Library



## مسيلمه

مسيلمه د نبوت يو دروا‌غجن مدعي و، له هغه سره د بني حنيفه څلويښت زره سواره ملګري وو، له همدې امله يې په څرګنده توګه بغاوت ته ملا تړلې وه، په يمامه نومې ځاى کې يې چې د عربو د سيمې له منځنۍ برخې نه يو څه اندازه د ختيځ لور ته پروت دى، مرکز نيولى و، ابوبکر رضي الله عنه د باغيانو د دغه سيلاب د مخنيوي لپاره عکرمه رضي الله عنه ورليږلى وه خو د هغه له لاسه څه پوره نشول شرحبيل رضي الله عنه چې د هغه له ماتې نه خبر شو نو په لاره کې ايسار شو عکرمه رضي الله عنه چې د خلافت دربار ته د خپلې ماتې خبر وليږه، نو ابوبکر صديق رضي الله عنه سمدلاسه ورته په ځواب کې وليکل چې:

پام چې له هغه ځاى نه بېرته را نشي، مسيلمه کذاب پرېږده حذيفه او عرفجه رضي الله عنه ته ورشه وروسته تر هغې بيا د يمن په حضر موت کې له مهاجر رضي الله عنه سره يو ځاى شه.

شرحبيل رضي الله عنه ته يې وليکل چې خالد بن وليد رضي الله عنه دغې خواته در روان دى تر څو دلته نه وي در رسيدلى هر چيرته چې يې همغلته اوسه، کله چې د مسيلمه کذاب معامله پاى ته ورسيده، نو ته بيا د عمر و بن الغاص رضي الله عنه مرستې ته چې د بني قضاعه ته ورغلى دى ورشه.

خالد بن وليد رضي الله عنه د مهاجرو او انصارو له يو شمير لښکر سره د مسيلمه د بغاوت د شنډولو لپاره وخوځيده. شرحبيل رضي الله عنه چې د خالد د راتګ خبر واوريده نو د هغه له راتګ نه مخکې يې له پخواني ځاى نه کوچ وکړ او د مسيلمه له لښکر سره مخامخ شو، له جګړې وروسته دى هم د عکرمه په څير له ماتې سره مخامخ شو، خالد رضي الله عنه چې له دغه

ketabton.com - The Digital Library



حاله خبر شو نو شرحبيل رضي الله عنه يې ملامت کړ له بلې خوانه ابوبکر صديق رضي الله عنه د مرستې لپاره په دې خاطر چې د شاله خوا نه پرې ثوک برید ونه کړي سليط رضي الله عنه هم له یو شمیر لښکر سره ور ولیږه.

## د یمامې جګړه

خالد رضي الله عنه د مسيلمه کذاب د سیمې په عقربا نومې ځای کې له خپل لښکر سره ديره شو. مسيلمه چې د مسلمانانو د لښکر له راتګ نه خبر شو، نو خپل تومیالی افسر مجاعه بن مراره يې له یوه کوچني لښکر سره د هغوی مقابلې ته ولیږه خو د اسلام ننګياليو هغه له خپلو ملګرو سره ژوندي ونیوه.

وروسته بیا مسيلمه خپله د جګړې لپاره ځان چمتو کړ خپل ټول مال او اسباب يې د لښکر شاته کېښوده، د مسيلمه زوی شرحبيل د بنو حنيفه د سپر و په مخکې داسې پاروونکي ويتا وکړه چې هغوی يې له یوې مخې را وپارول او د جګړې میدان ته يې ور ودانګل جګړه په زښت زیات جوش و خروش پیل شوه، حق او باطل دواړه په پوره مېړانه او سرښندنه جنګیدل د بنو حنيفه له خوا نه لومړی حمله نهار الرجال نومې افسر وکړه په ډېره میړانه د مسلمانانو په صفونو کې ورننوت خو د عمر رضي الله عنه ورور زید بن خطاب رضي الله عنه ورسره مقابله وکړه او ويې واژه، د نهار الرجال له وژل کیدو نه وروسته د بني حنيفه د جګړې شدت نور هم زیات شو هغوی ټول له یوې مخې را وپاریدل، دواړه پوځونه سره لاس و ګریوان شول، د تورو خرپهار او شرنګهار د خلکو غوږونه کڼول، هرې خواته د وینو ویالې بهیدلې د دواړو خواو نه انبار انبار مړي په میدان پرېوتل، مسلمانانو په

ketabton.com - The Digital Library



ډېره ميړانه مقابله کوله، خو بني حنيفه به شيبه په شيبه په جګړه کې لا پسې توديدل، يو ځل خو يې داسې سخته حمله وکړه چې نږدې و مسلمانان وتښتي، د پوځ مشرانو چې هر څومره زيار ويوسته خو سره له دې هم مسلمانان شيبه په شيبه په شا روان وو، په دغه سخته جګړه کې د مهاجرينو بيرغ وړونکی عبدالله بن حفص رضي الله عنه شهيد شو، د حذيفه غلام سالم رضي الله عنه ور منډه کړه او بيرغ يې بيرته لوړ کړ، د پوځ د افسرانو او ځينې اتلانو د بې سارې اتلوالۍ سره سره هم د مسلمانانو پوځ شيبه په شيبه په شا روان وو، پر دغه وخت چې د مسلمانانو پوځ په پر له پسې توګه پر شا روان وو، بني حنيفه ته په دغه وخت کې دا فرصت په لاس ورغی چې د خالد رضي الله عنه پر خيمه د خپل سردار مجاعه د خلاصون لپاره حمله وکړه، خالد رضي الله عنه د دغې ناڅاپې حملې له امله پخپله هم دې ته اړ شو چې خيمه پريږدي او پر شا ولاړ شي حمله را وړونکي مجاعه ته را ورسيدل، په همدغه لنډه شيبه کې خالد رضي الله عنه مسلمانان بېرته سره را منظم کړل په همدغه شيبه کې چې بني حنيفه د خپل سردار مجاعه په خلاصولو بوخت وو، د الله جل جلاله توري خالد رضي الله عنه داسې پرې را پريووت چې له هغوی نه وار پار خطا شو او خپل سردار يې همغسې په ځنځيرونو تړلی پريښود په ډېره وارخطايې سره په شا ولاړل.

بني حنيفه هم سمدلاسه بېرته خپل صفونه سنبال کړل، بېرته يوه قيامت وزمه جګړه پيل شوه، يوې خوا هم د تېښتې فکر او خيال نه درلوده، په يوه شيبه کې به پر مسلمانانو دومره سختي راغله چې له ورايه به داسې ځرګنديده چې اوس به وتښتي، په بله شيبه به بني حنيفه داسې ښکاريدل چې نور يکې څه نه دي پاتې او تيښتې ته چمتو دي، د جګړې په دغه سخت حالت کې د مهاجرينو دوه نوميالي سرداران ابو حذيفه رضي الله عنه او

ketabton.com - The Digital Library



زید بن خطاب رضي الله عنه شهیدان شول، د حذیفه غلام سالم هم د شهادت لوړه درجه ومونده له جګړه په ډېر شدت روانه وه له دواړو خواو نه بې شمیره خلک سره مړه شول، هیچا هم دا نشوای ویلای چې دا جګړه به د چا په ګټه پای ته ورسیږي، د انصارو مسلمانانو یوه مشر ثابت بن قیس رضي الله عنه چې د جګړې دا حال ولید نو ویې ویل: ای مسلمانانو! تاسې په دې جګړه کې ډېر بد مثال قایم کړ تر دې وروسته یې توره په لاس کې ونیوله د دښمن په صفونو کې ورننوت او دا خبره به یې په لوړ اواز کوله: زما د تورې مزه وڅکئ زه به تاسې ته د صبر، زغم او ټینګار ریښتونی مثال دروښیم په همدې توګه د ډېر سختې جګړې له امله شهید شو، ابو حذیفه رضي الله عنه به په چیغو چیغو نارې وهلې: ای د قران منونکو! په خپلو سربښندنو سره قران ته عزت وروبښئ په پای کې له ډېرې میړانې او سخت جنګ نه وروسته شهید شو د هغه له شهادت نه وروسته د هغه غلام سالم رضي الله عنه د مسلمانانو بیرغ اوچت کړ، او ویې ویل: که نن مې په جګړه کې ثبات او ټینګار ونه ښوده، نو زه به د قران بدترین حامل یمه په پای کې هغه هم شهید شو، براء بن مالک رضي الله عنه د عربو د هغو اتلانو له جملې نه و چې په جګړه کې شا ګرځول یې نه پیژندل هغه چې یو شمیر مسلمانان ورو ورو په شا روان ولیدل نو مخې ته یې ودریده او ورته یې وویل: ای مسلمانانو! زه براء بن مالک یم ما پسې راځئ مسلمانان د هغه له میړانې او اتلولۍ نه ښه خبر وو له همدې امله وربسې روان شول او په داسې میړانه یې حمله وکړه چې دښمن یې په شا وتمباوه.

د جګړې پر وخت د مسلمانانو لوري ته سخت باد را والوته او شګې به یې پر مخ او سترګو ورشیندلې، چا د زید بن خطاب رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې اوس څه وکړو هغه ورته وویل: والله زه به نن تر هغه وخته چا سره خبرې ونه کړم چې یا دښمن ته ماتې ورنه کړم او یا الله جل جلاله د شهادت

ketabton.com - The Digital Library



ویاړ راته وبښي، له خپلو ملګرو سره په ډېره میړانه او ثبات وجنګېده په پای کې یې له خولې نه وتلي الفاظ پوره شول او د شهادت ویاړ یې په برخه شو.

خالد رضي الله عنه چې د مسلمانانو افسرانو شهادت او د جګړې شدت ته وکتل نو په زړه کې یې وویل: دا خلک لکه چې په مسیلمه باندې کلکه عقیده لري نو له دې امله تر څو چې هغه د لښکر شاته ژوندی ولاړ وي که دوی ټول مړه هم شي نو له جګړې نه به لاس وانخلي له دغه فکر نه وروسته خالد رضي الله عنه له یو څو تنو ملګرو سره سرونه په تلي کیښودل او د دښمن په لښکر یې آسونه ور پوري کړل په دغه شیبه کې هغوی ټول په ډېر لوړ اواز د محمد صلی الله علیه وسلم نارې وهلې دغه ټولګي د سیف الله په مشرۍ د سیلاب په څېر پر مخ روان و، د دښمن د لښکر هر څوک به یې چې مخې ته راتلل په تورو به یې یوه خوا او بله ګوډو مات غورځول، د بې ساري جګړې او میړانې نه وروسته چې د دښمن د لښکر منځ ته ورننوتل له ورایه یې مسیلمه کذاب ولیده، خالد رضي الله عنه د هغه له لېدو سره سم د هغه نوم واخیسته، غږ یې پرې وکړ او ورته ویې ویل چې له تاسره مې کار دی. هغه ځواب ورکړ چې څه وایې زه دلته یم د الله جل جلاله توره نوره هم ورنژدې شوه، په دې ترڅ کې یې له خپلې خوا نه د صلحې یو څو ډېر نرم شرایط چې د مسیلمه په ګټه و، ورته وړاندې کړل، مسیلمه ډاډه شو چې خالد رضي الله عنه رښتیا هم د صلحې په نیت راغلی دی، او جګړه زموږ په ګټه روانه ده له دې امله به چې خالد رضي الله عنه هر شرط ورته وړاندې کاوه که څه هم د هغه په ګټه به و خو هغه به مخ بلې خواته واړاوه او دنه یا هو ځواب به یې ورکړ پر دغه وخت خالد رضي الله عنه په کافي اندازه ور نژدې شوی و، د یوه شرط په وړاندې چې هغه مخ بلې خواته واړاوه او دنه ځواب یې ورکړ، نو خالد رضي الله عنه پرې برید وکړ مسیلمه چې د خالد

ketabton.com - The Digital Library



رضي الله عنه د توري پرک وليده نو په سترګو يې توره تياره راغله او په منډه يې پيل وکړ، پلويانو يې چې د مسيلمه د منډو دوړې وليدلې نو د هغوی پښې هم سستې شوې او تيښتې ته چمتو شول، خالد رضي الله عنه مسيلمه ته ور ناري کړې مسيلمه! ودرېږه دا د صلحې شرطونه خو يو ځل پوره کړه

خو هغه د خپلې منډې په دورو کې ورک وو دا خبره يې چېرته اوريدله په دغه شيبه کې يو سردار خپل لښکر ته ناري کړې، په باغ کې، په باغ کې يعنې په هغه باغ کې چې د جګړې ميدان ته ډېر نژدې دی پناه واخلئ، له همدې امله ټول لښکر د باغ په لورې منډه کړه، چې ټول ورداخل شول نو د باغ دروازه يې بنده کړله

پر دغه وخت براء بن مالک رضي الله عنه مسلمانانو ته ناري کړې چې ما په څه چل باندې د باغ منځ ته ور ګوزار کړئ، خو خلکو سره داسې وسيله نه وه چې دا کار يې کړی وای، هغوی ورته وويل موږ دا کار نشو کولای خو براء رضي الله عنه ورته وويل چې حتماً به دا کار کوئ

په همدغه شيبه کې براء رضي الله عنه د دېوال سرته په خپله ورټوپ کړ، مخکې تر دې چې د باغ د خلکو ورته پام شي هغه د باغ منځ ته ورټوپ کړ د يو څو کسانو چې هغه يوائې وليده نو ترينه را چاپير شول، خو څرنګه چې هغه ډېر زړور جنګيالی و، نو له هغه سره يې په جګړه، جګړه کې ځان د باغ دروازې ته ورساوه، دروازه يې خلاصه کړه او يو دم پرې د مسلمانانو لښکر رانوت د باغ په هر ګوټ کې په تښتيدلي لښکر باندې د مسلمانانو د تورې پرک د تندر په څېر را پريوت بيرته يوه سخته جګړه پيل شوه، پر دغه وخت کې يو تن مسلمان پر مسيلمه کذاب باندې د څانګې او نيزې داسې پوخ ګوزار وکړ چې په بل مخ راپريوت تر څنګ يې يو انصاري مسلمان هم ولاړ و هغه پرې له ډېره جوشه د توري داسې ګوزار وکړ چې

ketabton.com - The Digital Library



مسيلمه کې نور هيڅ هم پاتې نشول د بنو حنيفه قبيلې خلکو چې خپل دروا‌غجن پيغمبر په وينو کې لت پت وليده، نو د جګړې له ډګر نه په تيښته وتښتيدل

## د مسيلمه قاتل

خالد بن وليد رضي الله عنه ، د مسيلمه د قاتل پوښتنه وکړه چې څوک و له پلټنې وروسته څرګنده شوه چې مسيلمه د جبير بن مطعم غلام وحشي رضي الله عنه پر نيزه وهلى دى، هماغه وحشي چې د احد په غزا کې يې سيدالشهداء حمزه رضي الله عنه په تکې سره په نيزه وهلى و، دلته يې هم په مسيلمه پسې ځار کړى و چې په پاى کې پرې بريالى شو، ددې لپاره چې که الله جل جلاله يې هغه ستره ګناه وبښي جګړه د مسيلمه له وژل کيدو نه وروسته پاى ته ورسيدله، د بنو حنيفه خلکو يوه خوا او بله خوا منډې وهلې، مسلمانانو هم هرې خواته پسې اسونه زغلول پر دغه وخت خالد رضي الله عنه په ځنځيرونو تړلى مجاعه راويوست او د جګړې په ميدان کې يې له ځان سره ګرځاوه خالد ورته وويل ما ته د خپل سردار مړى راوښيه، مجاعه د مسيلمه مړى پيدا کړ او خالد رضي الله عنه ته يې وښوده خالد رضي الله عنه چې ورته وکتل نو حيران شو چې دغه بد شکله بد مخى او د ټيټې ونې خاوند انسان چې په درواغو يې د پيغمبرۍ دعوه کړې وه، څومره ستر خطر يې د اسلام او مسلمانانو لپاره پيدا کړى و.

په دغه قيامت وزمه جګړه کې مسلمانان بريالي شول خو ډېر سخت تاوان يې هم وزغامه د مدينې منورې د مهاجرينو (۳۷۰) تنه شهيدان شول او د انصارو ۳۰۰ تنه نوميالي شهيدان شوي وو. په دغو شهيدانو کې ۳۷۰ تنه صحابه او د قران حافظان وو، د ټولو شهيدانو شمير دولس سوه تنو ته

ketabton.com - The Digital Library



رسيده، د اوه زره کسان د عقربا په ميدان کې وژل شوي وو او زره نور يې په باغ کې تالا ترغه شول شپږ اوه زره نور يې د تيښتې په ترڅ کې مړه او زخميان شوه په دې توګه کابو يو ويشت زره کسان يې ووژل شول.

## بهرنۍ حملې

د اسلامي حکومت کورني بغاوتونه چې پای ته ورسيدل نو ابوبکر صديق رضي الله عنه د بهرنيو دښمنانو حملو او خطراتو ته پاملرنه وکړه د پارس او روم پاچهۍ د اسلامي هېوادو ختيځ او لويديځ لوري ته پرتې وې، د دغو هيوادونو په سرحدي بريدونو کې داسې قبيلې پرتې وې چې د هغوی په مرسته دېرې ځواکمنې شوي وي، ددغو ځواکمنو ګاونډيو هيوادونو لپاره د مسلمانانو پر مختګ د انديښنې وړو، هغوی به کله، کله دغه قبيلې د مسلمانانو په وړاندې جنګ او جګړې ته هڅولې او کله کله به کومې سرحدي قبيلې د مسلمانانو د مرکزي حکومت په خلاف بغاوت ته ملا وتړله نو دوی به ورسره په پټه او ښکاره مرسته کوله د شمال لوري ته د شام سيمه او ختيځ لوري ته د عراق سيمه دا دواړه سيمې په حقيقت کې د عراق د بشپړ هيواد برخې وي خو دغه وخت پر شام باندې روميانو او پر عراق باندې پارسيانو حکومت کاوه.

پارسيانو به تل د مسلمانانو مخالفت کاوه، کله چې د بحرين خلکو بغاوت وکړ، نو هغوی يې په ښکنده توګه ملاتړ وکړ، د بني بکر قبيلې نامتو سردار مثنی بن حارث رضي الله عنه به تل د دغو بغاوتونو د ځپلو او ټکولو هڅه کوله، له مثنی رضي الله عنه سره اته زره پوځ ملګری وو، او د دښمنانو شمېر دېر زيات و، کافر او نصراني قبائيلو په خپلو منځو کې سره لاس يو کړی و، امير المؤمنين ابوبکر رضي الله عنه چې له دغو پيښو نه خبر شو نو نيت يې وکړ چې يو ځل بيا د الله جل جلاله توره له تيکي نه راوباسي او د

ketabton.com - The Digital Library



دښمن پر مړه یې وازمویې له همدې امله یې خالد سیف الله رضي الله عنه د عراق په لوري د مثنی رضي الله عنه مرستې ته ولیږه.

## د عراق په لوري پرمختګ

څرنګه چې خالد بن ولید رضي الله عنه ته په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم د سیف الله (د الله توره) لقب ورکړی و نو د همدغه خطاب د برکت له امله به یې چې هرلوري ته مخه کړله نو فتحه اوبری به یې په برخه کیده له همدې امله خالد بن ولید رضي الله عنه مخکې له دې نه چې له یمامه نه روان شي د امیرالمؤمنین ابوبکر صدیق رضي الله عنه په امر د عراق سرحدي ښارو نو لکه فالقیا، باروسما او اولیس ته ورغی د هغه ځای خلکو سمدلاسه اطاعت ته غاړه کیښوده او د صلحې غوښتنه یې وکړه، خالد رضي الله عنه د دغو خلکو صلحه او اطاعت د خپل ستر کار نیکمرغه پیل وګانه او د دغې سیمې له حاکم ابن سلویه سره یې صلحه وکړه، د صلحې له تړون نه وروسته خالد رضي الله عنه له خپل لښکر سره د حیره په ښار کې ډیره واچوله د حیره د ښار حاکم ایاس ابن قبیضه د پارس د پاچهی د والي په حیث کار کاوه، ایاس د حیره له مشرانو سره د خالد رضي الله عنه حضور ته راغی، خالد رضي الله عنه هغه ته دغه شرایط وړاندې کړل چې یا ایمان راوړه او د اسلام دین ته غاړه کیږده او یا د جزیې ورکول ومنه، که له دغو شرایطو نه یو هم نه منې نو د مقابلې لپاره چمتو شه، د مقابلې په نتیجه کې به توره په خپله فیصله وکړي، خو په پای کې به هغه څوک چې لومړی یې توري ته لاس کړی وي واجب القتل دی، ایاس ابن قبیضه جزیه ومنله د صلحې له دغه تړون څخه وروسته حیره او شاوخوا سیمې یې د اسلام تر سیورې لاندې راغلې او د جزیې ورکولو ته یې غاړه کیښوده په دې توګه د

ketabton.com - The Digital Library



ال نعمان د حكمرانۍ تر له سيمه له سوونو كلونو څخه وروسته د ساساني دولت له مرئيتوب څخه خلاصه شوه او د يو ازاد هېواد په توګه په عربو کې ورګډه شو

د فارس د دغه پلان خاكه په خپله ابوبكر رضي الله عنه تياره كړې وه، هغه خالد رضي الله عنه ته حكم كړی و چې ته د ايله ښار له خوا نه چې حيره ته نږدې و، خپله حمله پيل كړه، عياض بن غنم ته يې ليكلي وو چې ستا حمله بايد د مضيح له ښار نه پيل شي چې د عراق د سرحد په شمالي برخو كې پروت دی له همغه ځای نه د عراق سيمې ته ورننوځي او په پرله پسې توګه ورو، ورو پر مخ ولاړ شئ، تر هغې چې له خالد رضي الله عنه سره يو ځای شئ

## عراق ته د خالد رضي الله عنه روانيدل

مثنى بن حارثه رضي الله عنه ته پر فارس باندې د حملې كولو اجازه مخكې وركړل شوې وه، په دې توګه كله چې خالد رضي الله عنه ور ورسيده د مثنى رضي الله عنه جګړه پيل شوې وه

د اسلام دواړه ستر سپه سالاران د خلافت د احكامو په تعميل بوخت شول، خالد رضي الله عنه د خپل دغه ستر كار د سرته رسولو لپاره د خلافت له دربار نه مرسته وغوښتله، ابوبكر صديق رضي الله عنه يوائې قعقاع بن عمرو تميمي د خالد رضي الله عنه مرستې ته ووليږه، كله چې قعقاع رضي الله عنه لاړ نو ځينې خلكو له اميرالمؤمنين نه په حيرانتيا سره پوښتنه وكړه چې خالد رضي الله عنه له تاسو نه مرسته غوښتې وه او تا يوائې قعقاع رضي الله عنه ووليږه

اميرالمؤمنين وفرمايل: تاسو په دې مه اريانيږئ، قعقاع رضي الله عنه هغه

ketabton.com - The Digital Library



سرې دی چې که د ده په څير يو سربښندونکی په هر لښکر کې وي نو هغه لښکر ماتې نه کوي، په همدې توګه يې د عياض رضي الله عنه مرستې ته عبد بن عوف حميري ورولیږه، وروسته يې بيا د سرحدي عربو سردارانو مثنى رضي الله عنه، حرمله رضي الله عنهُ، موادر رضي الله عنه او سلمی رضي الله عنه ته حکم ولیږه چې تاسې ټول به د ايله پر مقام د خالد رضي الله عنه له لښکر سره يو ځای کيږئ، لنډه دا چې له خالد رضي الله عنه سره لس زره زړور جنګيالي له پخوانه موجود و اوس له مثنى رضي الله عنه او نورو سره اته زره لښکر نور هم برابریده، په دې توګه ټول اتلس زره پوځ د اسلام تر بيرغ لاندې راټول شو.

## له هرمز سره مقابله

خالد بن وليد رضي الله عنه خپل لښکر په درې برخو وويشه او درې واړو برخو ته يې په جلا، جلا لارو د حملې حکم ورکړ، لومړۍ برخه يې د مثنى رضي الله عنه په مشرۍ ولیږله او بله برخه يې د عدي بن حاتم رضي الله عنه تر قوماندې لاندې ولیږله او دریمه برخه پوځ يې له خپل ځان سره واخيسته، ټولو ته يې امر وکړ چې درې واړه لښکر به له مختلفو لارونه حمله کوي او په حضير نومې ځای کې به بېرته سره يو ځای کېږي
د دغو لښکرو له روانيدو نه مخکې خالد رضي الله عنه هرمز ته داسې ليک وراستولی وو:
که ته اسلام ومنې نو په امن به شې، که چيرې زمونږ دا غوښتنه نه منې نو د جزيې ورکولو ته غاړه کيږده او د يوه ذمي په توګه زمونږ په پاچهۍ کې داخل شه، که دا هم نه منې نو وروسته بيا به پښيمانتيا هيڅ ګټه درته ونه کړي، پر داسې وخت له ځانه پرته هيڅوک هم مه ملامتوه، ځکه ما له ځان

ketabton.com - The Digital Library



سره داسې خلک راوستي دي چې په مړينه او شهادت دومره مين دي څومره چې تاسې د ژوند په خوږو مين يئ،

هرمز د دغه ليک او نورو حالاتو خبر په تفصيل سره د ايران پاچا اردشير ته وليږه او خپله د خالد رضي الله عنه مقابلې ته د کواظم په لور وخوځيده خو په لاره کې خبر شو چې خالد رضي الله عنه خپلو لښکرو ته په حضير نومې ځای کې د راټولېدو حکم کړی دی نو له دې امله په ډېره چټکۍ سره د حضير په لوري وخوځيده او د اوبو پر ځای يې قبضه وکړه.

حضير د غرونو يو داسې کنډو و چې د فارس په لوري د تلونکو لارو تر ټولو کنډونو ډېر سخت او په ځوړه پروت و، د دغه ځای حاکم يو فارسي سردار و چې هرمز نوميده، هرمز به تل په وچه کې له عربو سره جنګيده او د اوبو له لارې به يې هنديانو سره جګړه کوله.

هرمز چې د خالد رضي الله عنه د راتګ خبر واوريده نو د فارس خسرو اردشير ته يې ځواب وليږه چې د مقابلې لپاره ټول هېواد چمتو کړي ځکه چې د عربو لښکرې سرحدونو ته رانږدې دي او دا خلک زموږ د تاج او تخت غوښتونکي دي، پخپله يې هم د پوځ په راټولو پيل وکړ، له يو زيات شمير لښکر سره تر ټولو د مخه د حضير درې ته راغی، د هغه دا نيت وو چې په همدې تنګ ځای کې د مسلمانانو مخه ونيسي د هغه د لښکر مخکښه برخه د سردار قبا د او انوش جان تر قوماندې لاندې وه، دغه دواړه مشران د ساساني دولت د بنسټ ايښودونکو له نسل څخه وو، د فارس اتلانو د يوې غونډې په ترڅ کې له يو بل سره دا ژمنه وکړه چې د وطن د ساتنې لپاره خپل سرونه قربانوو، خو دښمن تګ ته نه پرېږدو، د هغوی دې ژمنې او تړون په دې توګه عملي بڼه غوره کړه چې ځانونه به يو تر بله په ځنځيرونو سره وتړو په دې توګه که چا غوښتل چې وتښتي نو تښتيدلای به نه شي.

خالد رضي الله عنه ته چې دا څرګنده شوه چې د فارسيانو لښکر کنډو

ketabton.com - The Digital Library



نیولی دی نو اراده یې وکړه چې هغوی غافل کړي او په کوم بل کنډو، ور داخل شي، خو څرنګه چې هرمز ته هم هره کړۍ خبرونه ورسیدل نو د هرمز لښکر دا ځای پریښوده هماغه لار یې ونیوله چې خالد رضي الله عنه پرې را روان و، خالد رضي الله عنه چې دا لاره هم بنده ولیده نو په همدې دره کې یې په یوه داسې ځای ځای ونیوو چې اوبه پکې نه وي، خو هغوی په همدغه حال کې د جګړې تیاری پیل کړ، دا د الله تعالی فضل وه، چې ناڅاپه پر اسمان تورې وریځې را خورې شوې او ښه د خوند باران ووریده. مسلمانانو د باران اوبه ښې پریمانه ذخیره کړي دغه کار هغوی یو غیبي نصرت او تائید و، ګڼه او حوصلې یې لوړې شوې.

## د ذات السلاسل کاظمه جګړه

په دې ترخ کې هرمز د جګړې میدان ته راووت پر اس باندې سپور و او یوه خوا بله خوا یې په ډېر غرور چکر وواهه بیا یې پخپله خالد رضي الله عنه د مقابلې لپاره راوغوښت خو په پټه یې د خپل پوځ سپرو ته امر کړی وه چې کله خالد رضي الله عنه راووت نو تاسو موقعه ته وګورئ او سمدلاسه پرې حمله وکړئ، زموږ مطلب دا دی چې په هره توګه چې وي باید فتحه وکړو په جنګ کې د غدارۍ مسئله هیڅ مطرح نه ده.

خالد رضي الله عنه ولیدل چې د دښمن د پوځ سپه سالار ده ته د مقابلې لپاره نارې وهلې نو سمدلاسه پلی ور روان شو، هرمز چې خالد رضي الله عنه پلی ولیده نو خپله هم له اس نه راکوز شو، دواړو یوه پر بل د توري ګوزارونه پیل کړل.

د هرمز سپایانو ولیدل چې خالد رضي الله عنه پر هرمز بریالی کیدونکی دی نو سمدلاسه یې خپل اسونه په چالاکۍ د جګړې میدان ته راخوشې

ketabton.com - The Digital Library



کړل خو هغوی لا رارسیدلي نه وو، چې سیف الله د هرمز ورمیږ پرې کړ، هغه پر ځمکه ولویده او د حلال کړې مرغۍ په څېر تربیده د اسلام ستر اتل قعقاع رضي الله عنه چې د خالد رضي الله عنه په لور د ایرانیانو یرغل ولیده، نو د تکبیر یوه کفر لړزوونکي ناره یې وکړه او د غشي په څېر پرې ور خوشې شو. د سترګو په رپ کې یې د هغو خلکو حمله په شا وتمبوله چې په خالد رضي الله عنه باندې د مچیو په څېر راټول شوي وو. مسلمانانو په ډېر جوش باندې پر فارسیانو یرغل وکړ، په هغوی کې یو شمیر سپایانو ځانونه په ځنځیرونو تړلي وو چې ونه تښتي خو سره له دې هم مسلمانانو پرې داسې ورځ راوستله چې تیښتې ته اړ شول، هغوی د هرمز له وژل کیدو سره سم خپله روحیه بایللې وه. د جګړې د زیات شدت په نتیجه کې چې قباد او انوش جان خپل ژوند په خطر کې ولیده نو تیښته یې غوره وګڼله، د هغوی له تیښتې سره نور لښکر هم د جګړې له میدانه پښې سپکې کړې خالد رضي الله عنه د هرمز تاج امیر المؤمنین ابوبکر رضي الله عنه ته ولیږه، ابوبکر رضي الله عنه د فتحې د زیرې په اوریدو او د خالد رضي الله عنه د بې سارې میړانې له امله ډیر خوښ شو او د هرمز تاج یې بیرته خالد رضي الله عنه ته وباښه.

## حصن المراة

له دې جګړې نه وروسته خالد رضي الله عنه له خپل فاتح لښکر سره مخ په وړاندې لاړ. په خپله د بصرې د پله په میدان کې د لښکر سره ایسار شو او مثنی رضي الله عنه یې په تښتیدلو فارسیانو پسې ولیږه. مثنی رضي الله عنه په ایرانیانو پسې په تلو، تلو کې پر یوه کلا باندې حمله وکړه د دغې کلا مشره یوه ښځه وه د مسلمانانو له ورسیدو سره سمه مسلمانه شوه.

ketabton.com - The Digital Library



مسلمانانو د دغې کلا نوم حصن المراة يعنې د ښځې کلا کيښودہ.
د مسلمانانو لښکر د عامو خلکو له مال او فصل سره هيڅ غرض ونه کړ، نه يې د چا څه لوټ کړل، نه يې د چا فصل خراب کړ او نه يې خلک وځورول، ټول خلک يې په خپل عادي حالت پرېښودل له همدې امله په دغه سيمه کې بشپړ امن او امان منځ ته راغی.

## د ثنا د ويالې جګړه

هرمز، له دنيا تير شو خو دهغه ليک اردشير ته رسيدلی و، اردشير د هرمز مرستې ته خپل نوميالی اتل قارن له يو ستر لښکر سره راولېږه، قارن به د مزار سيمې ته را رسيدلی و چې د جنګ له تښتيدلو او ماتې خوړلو سره مخامخ شو، ماتې خوړلی لښکر ورته د هرمز د وژل کيدو غمجنه کيسه وکړله قارن دغه ماتې خوړلی پوځ له ځان سره کړ او د خالد بن وليد رضي الله عنه د لښکر په لورې په مزله بوخت شو، په لاره کې ورسره د قبا د اوانوش جان لښکرې هم ملګرې شوې، دغه بې شميره لښکر د ثنا ويالې پر غاړه ايسار شو
له دې خوا نه مثنی رضي الله عنه په ماتې خوړلي لښکر پسې په کراره، کراره روان وو، هغه د لارې پر سر دوه نورې کلاګانې هم فتحې کړې د هغه د پر مختګ په لاره کې يو ستر سيند خنډ شو، دغه سيند د دجلې د سيند يو ښاخ وو، مثنی رضي الله عنه په ډېر خطرناک حالت کې را ايسار شوی و، دی ناڅاپه له هغه لښکر سره مخامخ شو چې ساسانيانو د هرمز مرستې ته راليږلی و، د هغه سپايانو په ډېره ميړانه مقابله کوله خو د دښمن د لښکر شمير ښت زيات و، له دې امله په دغه جګړه کې فتحه غير يقيني وه، مثنی رضي الله عنه ډېر پريشانه و چې په دغه وخت کې يې ناڅاپه د

ketabton.com - The Digital Library



خالد رضي الله عنه د توري بريښنا او ځلا وليده چې ميدان ته له خپل لښکر سره را داخل شو، خالد رضي الله عنه پر داسې وخت ميدان ته راورسيده چې د مثنى رضي الله عنه ملګرې نهيلې او نا اميده ښکاريدل د الله توره د بريښنا په څېر د ظلمت پر پلويانو ور ولويده هره خوا به يې چې مخه کړه د دښمن په پوځ کې به يې کوڅې جوړې کړې، فارسيان د خالد رضي الله عنه د حملې له امله داسې وارخطا او تروره شول تا به ويل چې د ميږو په رمه شنه زمريان ور پريوتې دي، په يوه شيبه کې د ساساني پوځ بې شمېره پوځيان او نامتو سرداران د اسلام د اتلانو د توري خوراک شول، په دې ترڅ کې د لښکرو مشر قارن د معقل رضي الله عنه په لاس ووژل شو، انوش جان د عاصم رضي الله عنه په لاس جهنم ته لاړ او د عدي بن حاتم رضي الله عنه مشهور حاتم طايي (د خپل وخت سخاوتمن انسان) په توره د قباد ژوند پای ته ورسيده، د ايراني پوځ د مشرانو له وژل کېدو څخه وروسته په پوځ کې هم نور د مقابلې توان نه و، نه يې د مړو شمير معلوم و نه يې د ټپيانو، يو محدود شمېر په تيښته بريالي شول.

د دغه ستر لښکر د ماتې حال چې اردشير ته تفصيل سره ورسيده نو ځکه يې له پښو لاندې وتښتيده له ډيرې حيرانتيا نه هک پک پاتې شو، چې د لښکر ټول مشران وژل شوي وو.

اخر يې اندرزغر نومې عراقي سپه سالار چې د عربو د بکر بن وائيل له قبيلې څخه و د مسلمانانو د مخنيوي لپاره له يوه زيات شمير لښکر سر مامور کړ ور پسې يې يو بل فارسي سپه سالار بهمن جاذويه هم له يوه ستر لښکر سره راوليږه چې د هغه مرسته وکړي اندرزغر هڅه وکړه او يو ستر لښکر يې په دغه سيمه کې راټول کړ، د سرحدي سيمو عربان چې لا تراوسه مسلمانان شوي نه و او له مسلمانانو سره يې دښمني لرله، هغه يې هم د ساسانيانو تر بيرغ لاندې راټول کړل، نږدې، نږدې د دې سيمې ټول

ketabton.com - The Digital Library



ځمکوال او کروندګر هم په دغه لښکر کې راټول شول د لښکر د نظم او ترتیب څخه وروسته په ډېر لوړ احساس او جذبه را روان شول او په ولجه نومې ځای کې دیره شول.

## د ولجه جګړه

خالد بن ولید رضي الله عنه د شنې ویالې پر غاړه و چې د دغه لښکر له راتلو نه خبر شو، له خبریدو سره سم یې ځان ولجې ته ورساوه او د دښمن پوځ په وړاندې یې صفونه برابر کړل خالد رضي الله عنه له یوه جنګي تاکتیک نه کار واخیسته، یو شمیر لښکر یې د میدان دواړو خوا ته په داسې توګه پټ کیناوه چې دښمن هیڅ پرې پوه نشو د دغه کار له بشپړیدو وروسته یې پر دښمن حمله وکړه، د دواړو لښکرو ترمنځ سخته جګړه پیل شوه دومره سره وجنګیدل چې نور د یوې خوا د جنګیالیو صبر او زغم هم نه وو پاتې د تورو او نیزو د ډیر چلښت له امله د هر یوه لاسونه شل کیدو ته نږدې وو، خالد رضي الله عنه په همدغه حساس وخت کې د میدان دواړو خواو پټو شوو خلکو ته د جګړې امر ورکړ، هغوی ډېر په دمه وو، د سترګو په رپ کې د میدان له دواړو خواو نه پر دښمن راپرېوتل په داسې شور او ځوږ یې د تکبیر نارې وهلې چې د فارسیانو ډله سره لاړه، د دغو تازه لښکرو له حملې نه یو شیبې وروسته د فارس د لښکرو حوصلې ځواب ورکړ، یوه او بله خوا تیت و پرک شول له درې خواوونه د مسلمانانو د تورو او نیزو تر بریدو لاندې وو، د تیښتې لپاره یې یوه لاره درلوده او په همغه یې منډې کړې، اندرزغر له ماتې وروسته په دې بریالی شو چې له میدان نه روغ وتښتي خو په داسې وچه او سوځنده دښته وربرابر شو چې له لوږې او تندې پرمخه را پرېوت.

ketabton.com - The Digital Library



# د الیس جګړه

د بکر بن وائیل د قبیلې په دغه راز ماتې د عراق په عربي نژاده عیسایانو باندې اور بل شو او د خپل سردار بنو عجلان تر مشرۍ لاندې یې په الیس نومې ځای کې د پوځ په راټولولو پیل وکړ.
د اسلام د ستر سپه سالار خالد رضي الله عنه د لښکرو لا لړه شان دمه هم په برخه شوې نه وه چې یو بل لښکر را ښکاره شو، خالد رضي الله عنه لږ شانته پوځ په خپل ځای پرېښود او له نور لښکر سره خپله د دې نوي خطرې مخې ته ورغی، دغه لښکر د بدو او عیسایانو وو چې د جګړې لپاره راغلی و، هغوی په مخکېنۍ جګړه کې ذلت امیزه شکست خوړلی و، غوښتل یې چې د خپلې بې عزتۍ انتقام واخلي، هغوی د ایران له پاچا نه هم مرسته غوښتې وه او هغه هم د خپلو وفادار و قبائیلو د مرستې لپاره بهمن جادویه ورلیږلی و، بدو د غېږ او کسات د جذبې تر اغیزو لاندې جګړه کوله خو د خالد رضي الله عنه په څېر سپه سالار پر خلاف جنګیدل او برې موندل څه اسانه کار نه وو.
د هغه سرتیري مجاهدین په داسې میړانه جنګیدل چې ساري یې نه درلوده، د هرې رسالې سپايې به د برېښنا په څېر په میدان کې ګرځیده راګرځیده، هرې خوا ته به چې د عیسایانو له خوا نه د جګړې فشار زیات شو نو مجاهدینو به بیا همغه ځای ته ځان رسولی و.
پر دغه وخت ناڅاپه د الله توره وځلیده او د بدو د سردار سر له تنه لرې ولویده، د هغه په وژل کېدو سره د نور لښکر د همت ملا هم کړه شوه، او د تیښتې نیت یې وکړ، خوله هغوی سره د مرستې لپاره راغلو ایرانیانو، هغوی تیښتې ته پرې نښودل، بلکې جګړې ته یې وهڅول، یوه شیبه مقابله جاري وه په پای کې

ketabton.com - The Digital Library



د ایرانیانو د مسلمانانو د وژونکو حملو او د تورو بې دریغه ګوزارونو ته ځان ټینګ نه کړای شو، لښکر ته یې د بېرته را ستنیدو نارې ووهلې د جګړې په میدان کې یې بې شمیره مړي پرېښودل خالد رضي الله عنه چې د هغوی دغه حال ولیده نو خپلو جنګیالیو افسرانو ته یې نارې کړې چې بندیان یې کړئ، بندیان یې کړئ او که نه وي ویې وژنئ چې د فتنې ریښې له بیخه ووځي د دغه اواز په اوریدو سره د اسلام اتلان پرې ورپریوتل، بې شمېره یې بندیان کړل او په بې شمیره نورو باندې یې میندې بورې کړې په دغه جګړه کې اویازره عرب او غیر عرب وژل شوي وو.

د عراق او عجمو د دغو فتوحاتو خبر چې امیر المؤمنین ابوبکر صدیق رضي الله عنه واوریده نو زښت زیات خوښ شو بې اختیار یې له خولې نه ووتل چې د عربو ښځې به د خالد په څېر بل زوی را نه وړلای شي.

## د حیره د خلکو بغاوت

خالد رضي الله عنه ته خبر ورسیده چې د حیره خلکو بغاوت پیل کړی دی، د اسلام نومیالی اتل د دغه خبر له اوریدو سره سم له خپل توریالي لښکر سره له امخیشیا نه کوچ وکړ او د حیره ښار طرف ته په توندۍ سره روان شو، د لښکر ځینې درونډ سامان یې په بیړیو کې بار کړ او د سیند له لارې بې حیره ته ولیږه سردار ازادبه په حیره کې د مسلمانانو د مقابلې لپاره موجود و.

هغه چې د خالد رضي الله عنه د راتګ اوازه واوریده نو خپل زوی یې مخې ته ورولیږه هغه د سیند د اوبو مخه بل لوري ته وګرځوله له دې امله د مسلمانانو بیړۍ په ډنډونو کې ونښتلې، خالد رضي الله عنه چې دا حال ولیده نو سمدلاسه یې له ځینو جنګیالیو سپرو سره د فرات سیند، باوقلي نومې سیمې ته ځان ورساوه د ازادبه زوی هم د غلته له خپل لښکر سره دیره

ketabton.com - The Digital Library



شوی و، د اسلام زړور جنګیالي ناڅاپه ور ورسېدل او هغه یې له خپلو ملګرو سره ایسار کړل دی او ملګري یې ووژل شول تر دې وروسته خالد رضي الله عنه د سیند مخه ییرته خپل اصلي لوري ته راوګرځوله، په دې توګه بیړۍ بېرته په اوبو کې روانې شوې او الحیره ته ورسیدلې تر دې وروسته هغوی د ښار په شاوخوا سیمو کې خپل پوځیان خواره کړل او تر خپل کنټرول لاندې یې راوستلې د ښار حاکم ازادبه چې د خپل زوی او کسرا له مړینې یو ځای خبر شو، نو په تیښته وتښتیده، مسلمانانو ښار محاصره کړ لږه موده وروسته د ښار خلک د کلابندۍ له حالت نه په تنګ شول او د عیسایي راهبانو په مشوره یې صلحه وکړه. د صلحې د شرایطو له تامین نه وروسته هغوی د جزیې ورکول ومنل.

کله چې د حیره د فتحې کولو کار پای ته ورسیده نو خالد رضي الله عنه د شکرانې په توګه اته رکعته نفل لمونځ وکړ او تر هغې وروسته یې خپلو ملګرو ته وویل: د مؤته د جنګ پر وخت زما په لاس کې نهه توري ماتې شوې وې، خو څومره سخته مقابله چې له ما سره د فارس خلکو وکړه تر دې مخکې راسره هیچا نه وه کړې.

د فتحې له بشپړیدو نه وروسته خالد رضي الله عنه حیره خپل پوځي مرکز او دارالحکومت وټاکه، دا د مسلمانانو لومړی اسلامي دار الحکومت و چې له جزیرة العرب نه بهر منځ ته راغلی و.

خالد رضي الله عنه تر یو کاله پورې د امیرالمؤمنین په امر په حیره کې پاتې شو، د بې کارۍ دغه زمانه په خالد رضي الله عنه غوندې عامل انسان ډېره سخته تیره شوه، هغه څو څو ځلې خپلو ملګرو ته ویلي وو، چې که د امیرالمؤمنین ابوبکر رضي الله عنه حکم نه وای نو ما به د عیاض بن غنم راتلو ته چې یو کال کېږي په دومة الجندل کې پروت دی او د سوبې او ناکامۍ احوال یې نه معلومېږي انتظار نه وای ایستلی او نه به مې هغه په

ketabton.com - The Digital Library



خپل پوځ کې داخل کړی وای کله چې د ډیرې وزګارتیا او انتظار له امله د خالد سیف الله رضي الله عنه د صبر جام په مورګو راواوښت نو له حیره او انباط نه یې یو یو کس راوغوښت، د هغوی په لاس یې یو لیک د فارس د پاچا په نامه ولیږه او بل یې ایراني عمالو ته ورولیږه.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

دا لیک د خالد بن ولید له خوا نه د فارس د پاچا په نوم دی د الله جل جلاله ډېر شکر دی چې ستاسو د پاچاهۍ نظام یې ګډوډ کړ ستاسو مکر او مکاري یې ناکامه کړه او اختلاف یې در کې پیدا کړ، که چېرې الله جل جلاله داسې نه وای کړی نو تاسې ته به نور زیان هم در اووښتی وای، اوس ستاسو لپاره غوره لاره دا ده چې زموږ اطاعت ومنئ، که داسې مو وکړل نو موږ به ستاسې له سیمې بلې خوا ته لاړ شو، که نه نو تاسې به له یوه داسې قوم نه ماتې وخورئ چې مرګ یې دومره خوښ دی څومره چې ستاسې ژوند خوښ دی، د ایراني عمالو په نامه یې هم همدغه راز لیک استولی و، ایراني پوځ حیره ته نږدې په انبار او عین التمر کې دیره شوی و.

## الانبار

خالد رضي الله عنه د حیره ښار د اسلامي پوځ د مرکز په توګه ټاکلی و، اوس د مسلمانو پوځیانو له پوځي اډې نه په منظمه توګه د ورځې پنځه ځلې د اذان او اقامت، غږ اوریدل کیده خالد رضي الله عنه د یو کال راهیسې په دغه ځای کې میشت و، پر دغه خت کې جریر بن عبدالله بجلي رضي الله عنه هم له خپل پوځ سره د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په حکم د خالد رضي الله عنه پوځي اډې ته راغی خالد رضي الله عنه له څه مودې وروسته خپل پوځ

ketabton.com - The Digital Library



مرتب کړ او د انبارد ښار په لوري وخوځیده.
د اسلام د لښکرو د مقدمة الجیش مشر اقرع بن حابس رضي الله عنه و، نوموړی د جګړې د میدان ستر اتل وو، دی د یوه داسې خوی څښتن و چې له کفارو سره له جګړې نه پرته یې نور هیڅ نه خوښیدل له همدې امله کله چې هلته ور ورسیده نو سمدلاسه یې له دښمنانو سره جګړه پیل کړه، د انبار ښار د فرات سیند پر څنډه پروت دی دغه ښار په حقیقت کې یوه مضبوطه پوځي کلا وه چې څلورو خواو ته یې ژور، ژور خندقونه کنستل شوي وو، ایراني سپایان له پولادي زغرو سره د دې کلا د هر دېوال د ساتلو لپاره ټاکل شوي وو.
د دواړو خواو پوځونو په میدان کې سره مخامخ شول او جګړه پیل شوه، د جګړې له پیل نه مخکې اقرع بن حابس رضي الله عنه په خپل لښکر کې زر (۱۰۰۰) تنه تکړه غشي ویشتونکو ته وظیفه ورکړې وه چې د جګړې له پیل سره سم به تاسو د دښمن د مخکیني صف زر تنه په نښه کوئ او له سترګو پرته به یې په بل ځای نه ولئ، دغو زر تنو غشي ویشتونکو خپله ورسپارل شوې دنده په ښه توګه سرته ورسوله د الله جل جلاله په فضل یو غشی هم خطا نشو له دې امله د جګړې له پیل سره د دښمن له صف نه زرتنه رانسکور شول تورو ته لا چا لاس هم نه و وروړی د دښمن پوځ په دغه کار سره ډېر سخت وارخطا شو، له همدې امله مسلمانانو د دې ورځې نوم (ذات العیون) یعني د سترګو ورځ ایښې ده، د ایرانیانو د پوځ مشر شیرزاد، چې د ساباط والي و، د دغه راز بدې ورځې په لیدلو سره یې سمدلاسه د صلحې غوښتنه وکړه، خو د هغه د صلحې شرایط خالد رضي الله عنه ونه منل، له همدې امله جګړه بیا په ډېر شدت سره پیل شوه، ایرانیانو خپل خندقونه د مسلمانانو د تورې له خرپ نه لرې او خوندي ساتلي وو خالد رضي الله عنه سمدلاسه د لښکر ټول کمزوري اوښان او څاروي حلال کړل او د خندق په

ketabton.com - The Digital Library



یوه تنګه برخه کې یې واچول د خندق یوه برخه یې پرې ډکه کړه او مسلمانان پرې ورپورې وتل.

په دغه ځای کې ایرانیانو بیا ډېر شدید مقاومت پیل کړ، خو د مسلمانانو د الله اکبر، ربړدېدونکو نارو او د تورو خرپ هغوی په شا وتمبول نږدې و چې تیښتې ته یې اړ کړي، خو شیرزاد بیا هم د صلحې غوښتنه وکړه، خالد رضي الله عنه دا ځل د هغه د صلحې غوښتنه ومنله، د صلحې په تړون کې یو شرط دا وو چې دښمنان به له مال او اسباب نه پرته یوه داسې ځای ته رسول کیږي چې له هغه ځایه د خپل هېواد سرحد ته ور داخل شي، مسلمانانو د هغوی دغه شرط منلی و، له همدې امله یې شیرزاد له خپل لښکر سره د ایران سرحد ته ورساوه او د انبار ښار له ټول پوځي سامان سره مسلمانانو ته پاتې شوه، تر دې وروسته خالد رضي الله عنه د ښار شاوخوا کلي هم تابع کړل.

## عین التمر

تر دې وروسته د اسلام دغه ستر فاتح او اتل خالد رضي الله عنه زبرقان نومی سړی د ښار د حاکم په توګه وټاکه او په خپله د عین التمر، په لورې وخوځېده، عین التمر یو ښکلی ښار و چې ایرانیانو پرې حکومت کاوه، له ایرانیانو سره د دغه ښار په ساتلو کې بني ثعلب نومې غیر مسلمانه عربي قبیله هم ملګرې وه، دغه قبیلې د نبوت د درواغژن مدعي شجاع پلوی کاوه، د ښار حاکم، د ایران د ساساني کورنۍ د بهرام چوبین زوی مهران و، له هغه سره سربېره پر خپل لښکر د تمر او ثعلب قبیلې او زیاد عقه بن عقه نومی سردار هم ملګری و، عین التمر ته چې د خالد رضي الله عنه د راتګ اواز راورسیده، نو عقه مهران ته وویل، له عربو سره عرب په جګړه ښه

ketabton.com - The Digital Library



پوهيږي، ته موږ او خالد، سره پريږده موږ به په خپل منځ کې سره پوه شو. عقه له غير مسلمانانو عربو سره د خالد رضي الله عنه مقابلې ته راووت، دی لا پر اس سپور د خپل لښکر مخکې يوه خوا او بله خوا ګرځيده او صفونه يې برابرول، چې ناڅاپه يې په بريښنا وزمه سرعت سره د خالد رضي الله عنه کمند په غاړه کې ورولويده، تر څو په ځان پوهيده بيا د خپل لښکر له مخې نه د مسلمانانو د لښکر مخې ته را رسول شوی وو، د هغه پاتې پوځ چې د خالد رضي الله عنه دغه حيرانوونکي کارنامه وليده نو زړونه يې وښوئيدل او له جګړې پرته يې په ميدان کې د تيښتې ګرد پورته شو. مسلمانانو يو زيات شمير ترينه بنديان کړل.

مهران چې د خپلو عربو ملګرو د جګړې له دې ښندونکي ډرامې نه خبر شو، په هغه هم له ويرې خولې راغلي ښار يې پريښوده او وتښتيده، ماتې خوړلي عربان کلا ته ننوتل دروازې يې په ځان پسې وتړلې او له تسليميدو څخه يې انکار وکړ، د اسلام جنګيالي وريسې شول او د کلا خلک يې له څلورو خواوو نه ايسار کړل پر دغه وخت خالد رضي الله عنه څو څو ځلې، هغوی صلحې ته را وبلل، خو هغوی له خپل ضد نه وانه وښتل، خالد رضي الله عنه ډير په غوسه شو او جګړه يې پيل کړه، د کلا خلک چې د مسلمانانو د توري خرپ وليده نو له تسليميدو نه پرته يې بله چاره ونه ليده، له ښې سختې جګړې وروسته يې امان وغوښته، خو خالد رضي الله عنه د هغوی غوښتنه ونه منله، له يوې شيبې وروسته، هغوی مجبور شول چې له کوم شرط څخه پرته له کلا نه راووځي او وسله وغورځوي، تر دې وروسته عقه او د هغه ځينې سپايان ووژل شول، د عين التمر کلا له يوې معمولي حملې وروسته فتحه کړای شوه.

کلا ته نژدې د عيسايانو يوه کليسا وه چې څلويښت هلکان د عيسايي مذهب د زده کړې لپاره پکې اوسيدل هغوی چې له دغو حالاتو نه خبر شول

ketabton.com - The Digital Library



نو د کلیسا دروازې یې پورې کړې، خو خالد رضي الله عنه نه یوائې دا چې هغوی ته امان ورکړ، ډېره مهرباني یې هم پرې وکړه.
تر دې فتحې وروسته خالد رضي الله عنه غوښتل چې نور هم پر مخ ولاړ شي او شاوخوا سیمې د اسلامي خلافت مرکز ته تابع کړي، خو پر دغه وخت د عیاض بن غنم رضي الله عنه یو لیک راغی چې د دومة الجندل، له ښار څخه یې خالد رضي الله عنه ته داسې لیکلي وو چې زما د دښمنانو د لښکر شمېر زښت زیات دی تاسو سمدلاسه زما مرستې ته راشئ د دغه لیک له لوستلو وروسته خالد رضي الله عنه ، له خپل خاص لښکر سره د دومة الجندل، په لورې وخوځېده، په حیره کې یې قعقاع رضي الله عنه د حاکم په توگه وټاکه.

## د دومة الجندل فتحه

د عیاض رضي الله عنه په مقابل کې د عربو مغروره قبیلې لکه بني کلب، بني غسان، بني تنوخ او د بني ضخیم قبیلې مختلفو کورنیو، صف نیولی و، د جگړې په هکله د اکیدر بن مالک او جودي بن ربیعه ترمنځ اختلاف و اکیدر وویل چې جگړه کول عبث کار دی یا به صلحه وکړو، ضمناً یې دا هم ورته وویل: زه تر تاسو خالد رضي الله عنه ښه پېژنم، په اوسنۍ زمانه کې هیڅ څوک هم له خالد رضي الله عنه نه په جنگ ښه نه پوهېږي او نه د هغه هومره نیکمرغه دی، هر قوم چې له خالد سره مقابله کوي که شمیر یې هر څومره وي نو اورمرو به له ماتې سره مخامخېږي نو له دې امله تاسو زما خبره ومنئ او له مسلمانانو سره صلحه وکړئ، اکیدر هغه سړی و چې د مؤته په جنگ کې خالد رضي الله عنه بندي کړی و او هغه بیا له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره صلحه کړې وه خو جودي او د ښار نور خلک په دې

ketabton.com - The Digital Library



خبره ټينګ ولاړ وو چې اروموو به له مسلمانانو سره جګړه کوو نو له دې امله يې د اکيدر خبره ونه منله.

اکيدر هغوی سره د مخالفت له امله د هغوی ملګرتيا پرېښودله او غوښتل يې چې له دومة الجندل نه بهر کومې خوا ته لاړ شي له همدې امله د خالد پوځي اډې ته ورغی ځينې خلک وايي چې هغه يې وواژه خو ځينې نور روايتونه وايي چې هغه يې بندي کړ او مدينې ته يې وليږه. د عمر رضي الله عنه په وخت کې خلاص شو او له مدينې نه عراق ته لاړ او هلته يې عين التمر ته نږدې په دويمه، نومي ځای کې استوګنه غوره کړه او د ژوند تر پايه هماغلته اوسيده.

خالد رضي الله عنه له خپلو فاتحو مجاهدينو سره د دومة الجندل ښار بهرني خواته لاړ، په دې توګه له يوې خوا نه عياض بن ربيعه رضي الله عنه سنګر نيولی و او له بلې خوا نه يې د هغوی مخه نيولې وه، جودي بن ربيعه له يوه لښکر سره له کلا نه بهر راووت او له خالد رضي الله عنه سره مخامخ شو، پر همدغه وخت د هغه بل لښکر پر عياض رضي الله عنه حمله وکړه خو د الله مرسته او د مسلمانانو د سربښندنې نتيجه وه چې دواړو لښکرو ماتې وکړه، د خالد رضي الله عنه قهرمانو مجاهدينو جودي ابن ربيعه د لښکر مشر ژوندی ونيو، د هغه پوځ وغوښتل چې له ميدانه وتښتي او کلا ته ننوځي خو د کلا خلکو د مسلمانانوله ويرې نه دروازه بنده کړه په همدغه شيبه کې د اسلام سپايان توري په لاس ور ورسيدل ، يو شمير يې ووژل او يو شمير نور يې بنديان کړل تر دې وروسته يې په کلا حمله وکړه د کلا دننه چې څومره جنګيالي اوسېدل هغه ټول يا ووژل شول او يا بنديان کړای شول.

ketabton.com - The Digital Library



# حصید، حنافس او مضیح

هغه وخت چې خالد رضي الله عنه په دومة الجندل کې په جګړه بوخت و، د حیره خلک چې د خپل مشر عقه په وژلو خوابدي وو د فارس پاچا ته یې ولیکل چې له موږ سره له حیره نه د مسلمانانو په ایستلو کې مرسته وکړئ، د حیره عربو د لیک له امله د فارس دربار خپل دوه تنه پوځي افسران زر مهر، او زور به له یوه جنګیالي لښکر سره د هغوی مرستې ته راولیږل دغه دوه افسران چې د انبار شاوخواته را ورسیدل، نو د حصید او حنافس عربي قبائیلو ته یې ولیکل چې تاسو هم له خپلو جنګیالیو سره له موږ سره ملګري شئ، قعقاع رضي الله عنه چې په حیره کې د خالد رضي الله عنه پر ځای کار کاوه او له دې حاله خبر شو نو سمدلاسه یې عبد بن فد رضي الله عنه د حصید او عروه رضي الله عنه د حنافس په لوري ولیږل، د دې لپاره چې د دغو دواړو عربو قبیلو لښکرې د فارس له لښکر سره یو ځای نشي هغوی دواړو د دغو عربو قبیلو لارې بندې کړې، په همدغه وخت کې خالد رضي الله عنه هم حیره ته راورسیده.

سره له دې چې خالد رضي الله عنه له دومة الجندل نه په دې نیت را خوځیدلی و چې د فارس د پاچا پر مرکز مداین باندې حمله وکړي خو کله چې دلته راغی او دا حالات یې ولیدل نو د قعقاع رضي الله عنه په مشوره یې پر مداین باندې له حملې کولو نه د مخه دا غوره وګڼله چې لومړی دغه لښکر ته ماتې ورکړي، د همدې پریکړې پرا ساس، قعقاع بن عمرو رضي الله عنه، تمیمي رضي الله عنه، او ابو لیلی رضي الله عنه په ډېره چټکۍ سره د زوربه او زر مهر د لښکرو په لور ورغلل له بل پلوه خالد رضي الله عنه ته دا خبر هم را ورسیده چې د عقه د وینې د بدل لپاره هذیل بن عمران په

ketabton.com - The Digital Library



مضیح نومې ځای کې لښکر راټول کړی دی او همدارنګه ربیع بن بحیر هم په ثني او بشرکي پوځونه راټول کړي دي او دا هڅه کوي چې د زر مهر او زوربه لښکرو سره یو ځای شي.
د دغو خبرونو له اوریدو څخه وروسته خالد رضي الله عنه هم له خپل زړور او جنګیالي لښکر سره په تمر نومې ځای کې له قعقاع رضي الله عنه او ابو لیلی رضي الله عنه سره یو ځای شو، له هغه ځای نه یې قعقاع رضي الله عنه حصید او ابو لیلی یې حنافس ته ولیږل.

## د حصید جګړه

قعقاع رضي الله عنه چې حصید ته ورسیده، هلته یې ولیدل چې د زرمهر او زور به لښکرو سنګر نیولی دی او د مقابلې لپاره ځانونه چمتو کوي، قعقاع له رسیدو سره سم پرې حمله وکړه په دې توګه یوه سخته جګړه پیل شوه، د فارسي لښکر یو زیات شمېر خلک ووژل شول، قعقاع رضي الله عنه د یوې بریالۍ حملې په نتیجه کې د زر مهر سر په توره غوڅ کړ، زوربه د اسلام د یوه بل نومیالي او سربښندونکي مجاهد عصمته بن عبدالله رضي الله عنه له خوا نه ووژل شو، په دې توګه ایرانیانو ماتې وکړه او د وارخطايې په حالت کې یې په تېښته پیل وکړ، د تېښتې پر وخت یو زیات شمیر د مسلمانانو له خوانه ووژل شول او یو شمېر نور یې ژوندي ونیول یو زیات شمېر یې د تېښتې په حالت کې حنافس ته ورسېدل، هلته یې لا د پښو تناکې نه وې ښې شوې چې ابولیلی رضي الله عنه ور ورسېده، د حصید جګړه یې بیرته په ذهن کې را ژوندۍ شوه دلته هم له همغه راز تباهۍ او مرګ ژوبلې سره مخامخ شول لنډه دا چې له دې ځای نه هم د یوه بوذان نومې افسر په مشرۍ مضیح ته وتښتېدل، هلته له هذیل بن عمران سره چې د نا مسلمانه عربي

ketabton.com - The Digital Library



قبیلو لښکر یې راټول کړی و یو ځای شول
خالد رضي الله عنه چې د فارس د لښکر د ماتې، تیښتې او په مضیح کې د هذیل بن عمران له لښکر سره د یوه ځای کېدو له حاله خبر شو نو په پرده کې یې قعقاع رضي الله عنه ابو لیلي رضي الله عنه، عبد رضي الله عنه او عروه رضي الله عنه د اسلام د لښکر افسرانو ته ولیکل چې په یوه ټاکلې شپه ټول مضیح ته را ورسیږي په خپله هم په همغه ټاکلي نېټه مضیح ته روان شو

## د مضیح جګړه

د اسلامي پوځ ټول افسران په همغه ټاکلې شپه مضیح ته را ورسېدل، د شپې په تیاره کې یې له څلورو خوانه د هذیل پر لښکر یرغل وکړ، د هغوی ټولو د الله اکبر نعرو د هذیل له ویدو لښکریانو نه وار پار خطا کړ، کله یې چې د تکبیر نارې تر غوږ شوې او سترګې یې وغړولې، نو له ځلنده تیرو تورو سره مخامخ شول، خواران ډېر پریشانه او وارخطا شول، تر څو یې ځانونه خوځول، مسلمانانو بیا سم نیمایې له تورو نه تیر کړي وو، د دغه لښکر زیاته برخه ووژل شوه یوازې د هذیل د ډلې یو څو تنه په تیښته بریالي شول
خالد رضي الله عنه ته دا څرګنده وه چې ربیعه بن بحیر، په ثني او بشر نومې ځای کې له خپل لښکر سره دیره شوي دي، له همدې امله یې د مضیح له فتحه کولو نه وروسته سمدلاسه له قعقاع رضي الله عنه او ابولیلی رضي الله عنه سره یوه شپه وټاکله په خپله یې هم په همغه ټاکلې شپه ځان ثني ته ورساوه او له درې خواو نه د ربیعه په لښکر را پریوتل.

ketabton.com - The Digital Library



## د ثني او بشر فتحه

د ربیعه په وېده لښکر ناڅاپه د تورو تندر را ولوېده، د شپې تیارې او د تیرو تورو خرپ، دغه لښکریان دومره وارخطا کړل چې هیڅ یې هم له لاسه پوره نشول ټول لښکر د شپې تیارې او تیروتورو وخوړ، څه جنګي وسایل او سامان چې په ښار کې وو، هغه د اسلام جنګیالیو ترلاسه کړل، چې د غنیمت د قانون پر اساس پنځمه برخه د جنګ له بندیانو سره مدینې منورې ته ولیږله د دې جګړې په بندیانو کې د ربیعه بن بحیر، لور صابحه هم وه، هغه په مدینه کې علي رضي الله عنه په بیه واخیستله او په نکاح یې کړله، دې میرمنې نه د علي رضي الله عنه دوه اولاده عمر بن علي رضي الله عنه او رقیه بنت علي رضي الله عنها پیدا شول،عمر رضي الله عنه بن علي د پنځوس کلونو په عمر وفات شو

تر دې فتحې وروسته خالد رضي الله عنه له بشر، نه د رحناب، په لور روان شو، په رحناب کې د عقه زوی هلال، له خپل لښکر سره موجود و، خو ملګرو یې چې د اسلام د لښکرو اوازه واوریدله خپل مشر یې په میدان پرېښوده او په تیښته وتښتېدل، هلال چې دا حال ولېده، نو خپله یې هم ځان ټینګ نه کړای شو، په رحناب کې د اسلام له جنګیالیو سره هیڅ مقابله ونه کړه، له دې امله خالد رضي الله عنه د فراض د ښار په لوري وخوځیده

ketabton.com - The Digital Library



# د فراض جګړه

د خالد رضي الله عنه د ناڅاپي او تباه کوونکو بریدونو خبر د عراق په ټولو سیمه کې خپور شوی وه، له همدې امله د شاوخوا ورې غټې قبیلې چې په دښتو کې اوسیدلې ډیرې سختې ویرې اخیستې وې، هغوی خپل خیر په دې کې ولیده چې له مسلمانانو سره صلحه وکړي.
په دې توګه به چې هم خالد رضي الله عنه لښکرې هر ځای ته رسیدلې نو د هغې سیمو اوسیدونکو به اسلام یا جزیې ته غاړه ایښودله خالد رضي الله عنه له خپل پوځ سره د فرات د سیند تر څنګ د شمالي سیمو په لور حرکت وکړ، په لاره کې زیاترو قبیلو ورته د اطاعت سرونه ټیټ کړل په همدې ترڅ کې فراض ته ورسیده فراض هغه سیمه ده چې د شام، عراق او الجزیره بریدونه یکې سره یو ځای شوي دي دغه سیمه د عراق او شام په انتهایي شمالي برخه کې پرته ده، که عیاض بن غنم دومة الجندل فتحه کړی وای، نو ښایي خالد رضي الله عنه دغه ځای ته نه وای راغلی، ځکه د ابوبکر رضي الله عنه نظر دا نه و چې شام او عراق دې دواړه فتحه شي هغه یوازې دا غوښتل چې د دواړو هیوادونو په سرحدي پولو کې دې چې له جزیرة العرب سره نښتې دي، امن او صلحه وي چې ایرانیان او رومیان له دغه لوري نه پر عربو برید ونه کړای شي، خو الله جل جلاله ته دا منظوره وه چې دغه دواړه هیوادونه د خالد رضي الله عنه په لاس فتحه شي او د اسلام بیرغ پکې اوچت شي له همدې امله داسې اسباب او عوامل پیدا شول چې خالد رضي الله عنه تر دغه ځایه راشي او په دې توګه مسلمانانو ته له بري خوانه پر شام باندې د یرغل لاره پرانیستل شوه، د ایراني سرحدونو له لارې ورته پر رومیانو باندې د برید لاره خلاصه شوه، دا یو داسې معجزه وزمه کار و

ketabton.com - The Digital Library



چې د ابوبکر رضي الله عنه په خيال کې هم نه تيريده اخر دغه ستره کارنامه د عراق او شام فتحه د داسې اتل مسلمان په لاس سرته ورسيده چې په رښتيا هم د عربو او عجمو ښځو د داسې زوی له راوړو نه عاجزې دي.
خالد رضي الله عنه په فراض کې يوه مياشت تم شو.
په فراض کې له رومیانو او ایرانیانو نه پرته ډیرې نا مسلمانه عربې قبیلې هم راټولې شوې وې، دغو ټولو په ګډه سره یو ستر لښکر جوړ کړی وه، دغه خلک د خپل لښکر په ځواک او برې دومره غره وو چې د اسلام د جنګیالیو مجاهدینو مخې ته پخپله راووتل.
خالد رضي الله عنه هم په توندۍ سره ځان د فرات سیند غاړې ته ورساوه، لږه شیبه وروسته ډېره خونړۍ جګړه پیل شوه، د اسلام نومیالیو مجاهدینو په دوارو لاسونو داسې تورې چلولې چې رومیان ورته ګوته په غاښ شول او یوه شیبه وروسته یې په ډېره وارخطایۍ له میدانه وتښتېدل، د هغوی تر څنګ ایرانیانو او عربو هم د خالد رضي الله عنه د ملګرو د تورې خرب ته ځان ټینګ نه کړای شو، هغوی هم له یوې شیبې وروسته وریسې له میدان نه ښې سپکې کړې، مسلمانان هم وریسې شول د جګړې میدان هم ښه پراخه وو، څومره چې هغوی تښتېدل، هومره دوی هم وریسې و، خالد رضي الله عنه خپلو فاتحو مجاهدینو ته حکم وکړ چې تر څو ما امر نه وي کړی تر هغې مو خپلې تورې ښې بې دریغه چلوئ له همدې امله د دښمن د وژل شوو شمېر په دغه جګړه کابو سل زره تنو ته رسیږي.
له دې سترې فتحې نه وروسته خالد رضي الله عنه تر لس ورځو پورې په فراض کې میشت شو، تر هغې وروسته له خپل فاتح پوځ سره د ۱۲ هجري کال دذی القعدې په ۱۵ نېټه بېرته حیره ته راستون شو.

ketabton.com - The Digital Library



# پر شام باندې حمله

ابوبکر صديق رضي الله عنه د ۱۳ هجري ۶۳۶ ميلادي کال په پيل کې پر شام باندې له څو خواوو نه د حملې حکم وکړ، ابو عبيده رضي الله عنه ته يې پر حمص باندې، يزيد بن ابوسفيان رضي الله عنه ته يې پر دمشق، شرحبيل رضي الله عنه ته يې پر اردن او عمرو بن العاص رضي الله عنه ته يې پر فلسطين باندې د حملې حکم ورکړی و د دغو ټولو پوځي افسرانو تر قوماندې لاندې پوځ شمير شلورويشت زرو تنو ته رسېده.

د اسلام دغه ننګيالي مجاهدين چې د عربو له بريدونو نه واوښتل نو قدم په قدم يې د روميانو له پوځ سره مقابله پيښه شوه ځکه هغوی لا د مخه د جګړې لپاره ځان چمتو کړی و، پر دې سربېره د روم قيصر له ټول هېواد نه پوځونه راټول کړي وو او د جلا جلا افسرانو په مشرۍ يې د مسلمانانو مقابلې ته را استولي وو، د دغو حالاتو په نظر کې نيولو سره د اسلام افسرانو پريکړه وکړه چې ټول پوځونه بايد يو ځای شي او اميرالمؤمنين ابوبکر صديق رضي الله عنه ته يې وليکل چې د مرستې لپاره نور پوځونه راوليږي له همدې امله خالد رضي الله عنه هم چې د عراق د فتحه کولو قومانده ورکړې شوې وه له هغه ځايه دمشق ته راروان شو، له بل پلوه د روم قيصر هم د مسلمانانو د مقابلې لپاره يو ستر پوځ راليږلی و، دغه پوځ چې اجنادين نومې سيمې ته راورسيده نو هماغلته يې د جګړې لپاره ترتيبات پيل کړل.

خالد بن وليد رضي الله عنه او ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه له خپلو لښکرو سره د اجنادين په لوري وخوځېدل نورو افسرانو ته يې وليکل چې اجنادين ته ځان را ورسوي په دې توګه شرحبيل رضي الله عنه ، يزيد رضي

ketabton.com - The Digital Library



الله عنه او عمرو بن العاص رضي الله عنه هم په خپل وخت اجنادين ته راورسيدل، خالد رضي الله عنه تر ټولو د مخه حمله وکړه له یوې ډیرې اوږدې او خونړۍ جګړې وروسته چې درې زره مسلمانان پکې شهیدان شول فتحه وشوه دغه جګړه د ۱۳ هجري کال د جمادي الاول په ۲۸مه نېټه پېښه شوې وه.

خالد رضي الله عنه چې له دغې جګړې نه خلاص شو نو بېرته یې د دمشق لوري ته مخه وکړه، هلته چې ورسېده نو ښار یې له هرې خوانه محاصره کړ، دغه محاصره دابوبکر صدیق رضي الله عنه په وخت کې پیل شوه، خو فتحه یې د عمر رضي الله عنه په وخت کې پای ته ورسیدله.

## د دمشق جګړه

دمشق د شام ستر مرکز و، څرنګه چې عربان له ډېرو پخوا زمانو نه د سوداګرۍ لپاره دمشق ته راتلل، نو د دغه ښار د عظمت او ښکلا اوازه په ټولو عربو کې خپره وه، له همدې امله خالد رضي الله عنه په ډېر اهتمام سره د ښار د کلابندۍ پلان جوړ او عملي کړ، د ښار د سترو دروازو د ساتنې لپاره یې هغه ستر ستر افسران وټاکل چې د شام د نورو ولایتونو د فتحه کولو لپاره ټاکل شوي وو، په دې توګه عمرو بن العاص رضي الله عنه د توما او شرحبیل رضي الله عنه د الفرادیس، ابوعبیده رضي الله عنه په الجاثیه دروازو باندې وټاکل شول، په خپله خالد رضي الله عنه، له پنځه زره پوځ سره باب الشرق ختیځې دروازې ته نږدې دیره شو.

عیسایانو چې د دغې محاصرې انتظامات، ترتیبات او سختي ولېدله، نو همت یې بایلوده، د هغوی جاسوسان به د مسلمانانو د لښکر منځته راتلل او لیدل به یې چې پوځ په ډېر خوښۍ او خوږ سره د دې فتحې لپاره لیواله

ketabton.com - The Digital Library



دي هر سپايي د ثبات او ټينګکار اتل ښکاري، خو سره له دې هم د روميانو زړونه په دې ډاډه وو چې هرقل لا ژوندی دی او له حمص نه مرستيال پوځونه را خوځيدلي دي.

خالد رضي الله عنه ضرار ته له دوه زره سورو سره حکم وکړ چې ته به د اسلام د لښکر د ساتنې لپاره شاوخواته ګرځې راګرځې خو ضرار رضي الله عنه عرض وکړ، چې دغه کار خو بالکل زما د طبيعت خلاف دی، زه خو له دښمن سره مخامخ جګړې ته ليواله يم، خالد رضي الله عنه ورته وويل چې تا ته اجازه ده هر چيرته دې چې دښمنان پيدا کول له تورې نه يې تيروه.

عيسايانو فکرکاوه چې د عربو خلک د زغملو توان نه لري نو له دې امله که موږ لږ شان جګړه اوږده کړو له يوې خوا به ژمی راشي او دا خلک به له يخنۍ نه تنګ شي او له بلې خوا به د قيصر پوځونه هم زموږ مرستې ته راشي، خو د دوی دواړه اميدونه له خاورو سره برابر شول، ځکه مسلمانانو د يخنۍ په وړاندې داسې مقاومت وښود چې په حملو کې يې هيڅ کمی را نغی او له بل پلوه خالد رضي الله عنه ذوی الکاح نومي افسر له يوه تکړه پوځ سره له دمشق نه يو ميل لرې وليږه چې که دمشق ته مرستيال پوځونه راشي مخه يې ونيسئ او موږ پرې خبر کړئ له همدې کبله هرقل چې کوم پوځونه له حمص نه راليږلي وو د هغوی مخه ونيول شوه. جګړه له څلورو خوانه په ښار باندې پيل شوې وه، د دمشق خلک له هرې خوا نه کلابند وو، يو شمير خلکو يې د صلحې مشوره وکړه، خو د ښار مشر توما دغه خبره ونه منله.

په پای کې د ښار خلکو توماته وويل چې موږ به تر څو پورې په دغه راز حالت کې ژوند کوو يا له کلا نه بهر شه او له دښمنانو سره مقابله وکړه يا پاچا ته د مرستې لپاره ليک ور واستوه، توما هغوی ته وويل: کله چې مسلمانان پر ښار حمله وکړي نو موږ به د ديوالونو له سره پر هغوی باندې د غشو او تيږو باران جوړ کړو، په دې توګه به يو څو ورځې تيرې شي او مرستيال پوځونه به راورسيږي، کله چې له مرکز نه دغه مرستيال پوځونه راورسيدل نو بيا به له کلا

ketabton.com - The Digital Library



نه بهر پر هغوی یوه سخته حمله وکړه او ماتې یې ورکړه.

یوه ورځ همداسې تیره شوه څو بله ورځ د اسلام برمیالیو مجاهدینو له ثلور خواوو نه پر کلا باندې د غشو او تیږو باران جوړ کړ، په دغه منځ کې د شرحبیل بن حسنه رضي الله عنه څو ملګري زخمیان شول او ایبان بن سعید رضي الله عنه په شهادت ورسیده د ایبان رضي الله عنه ښځې چې د خپل میړه د شهادت خبر واوریده نو په وسله یې ځان سنبال کړ او د شرحبیل رضي الله عنه په لښکر کې داخله شوه، د ښار مشر توما چې د شرحبیل رضي الله عنه ملګري تېپیان او خواره واره ولیدل نو له خپل پوځ سره له دروازې نه بهر راووت شرحبیل رضي الله عنه چې توما ولیده نو خپلو ملګرو ته یې وویل چې لږ پر شا ولاړ شئ هغوی چې لږ پرشاولاړل نو توما داسې فکر وکړ چې مسلمانانو شکست خوړلی دی او تښتي، خو یوه شیبه وروسته د اسلام جنګیالي بیرته د توما له ملګرو نه راتاو شول، د ایان بن سعید رضي الله عنه ښځه هم لږ شان لرې ولاړه وه پر دښمنانو یې د غشو باران جوړ کړی وه، د هغې یو ګوزار هم نه خطا کیده.

توما چې لږ رامخکې شو نو له شرحبیل رضي الله عنه سره مخامخ شو، دواړو خپلې توري له تیکې نه راوایستلې او پر یوه بل یې ګوزارونه پیل کړل، توما په پرله پسې توګه په شرحبیل رضي الله عنه ګوزارونه کول، خو شرحبیل رضي الله عنه هم په ډېره مېړانه دفاع کوله، پر دغه وخت د سعید بن ایان رضي الله عنه ښځې د توما سترګه په نښه کړله، او د غشي په یو ګوزار یې پرې سوری کړه، په دغه کار سره توما د وار خطایی په حالت کې پر شا ولاړ او له خپل لښکر سره یې د کلا په لوري منډه کړه مسلمانان هم وریسې شول، خو کلا ته چې ورننوتې شول نو د کلا خلکو پرې له پاسه د تیږو او غشو باران جوړ کړ په دغه الغاء تلعاو کې توما بیرته له خپل لښکر سره کلا ته ننوت او دروازې یې په ځان پسې وتړلې څو ورځې وروسته د اسلام دښمنانو د شپې له خوا نه له هرې دروازې نه یوه یوه رساله پر مسلمانانو باندې د شبخون لپاره راولیږله خو

ketabton.com - The Digital Library



خالد رضي الله عنه کله دومره بې خبره وو چې دښمن یې په دومره معمولي پلان راښکیل کړای شي، هغه مخکې تر مخکې په هره خیمه کې وسله وال ساتونکي ټاکلي وو، هغوی په ډېر دقت سره څوکۍ کوله سربېره پر دې یې ضرار بن ازور رضي الله عنه هم له دوه زره سپرو سره د دغه کار لپاره ټاکلی و، له همدې امله څنګه چې دښمنان له کلا نه را ووتل، مسلمانانو ورته ځانونه چمتو کړل له هرې خوانه یې په ډېره مېړانه ورسره مقابله وکړه، په زرګونو تنه دښمنان په دغه شپه ووژل شول، په دغه جګړه کې د شرحبیل رضي الله عنه مېړانه د ستاینې وړ ده.

## د دمشق فتحه

د شپې له ناڅاپي یرغل نه چې دغه جګړه پیل شوه تېوله ورځ یې دوام وکړ، د اسلام دښمنانو په زرګونو مړي په میدان کې پرېښودل او دې ته اړ شول چې بېرته کلا ته ننوزي، د هغوی مشر توما چې د خپل لښکر ماتې ولیده چې کلا ته ګوډ او مات راننوتل نو ډېر سخت خپه شو او ویرې واخیست، هغه دا ګومان کاوه چې د شپې په همدغه ناڅاپي حمله به د مسلمانانو کار پای ته ورسوم، خو سربېره پر دې چې مسلمانان یې د کلا له دروازوته یو ګام په شا تګ ته اړ نه کړای شول، پخپله یې هم ډېر مالي او ځاني تاوان ولیده.
د کلا نورو مشرانو چې د جګړې نتیجه ولیده، په ډېره غوسه یې توما ته وویل، موږ خو مخکې درته ویلي وو چې مسلمانانو ته په جګړه کې څوک ماتې نشي ورکولای. که اوس هم ته زموږ د صلحې مشوره نه منې نو موږ به پخپله له مسلمانانو نه امان وغواړو، توما هم چې د جګړې نتیجې یې د ثبات پېښې ښویولې وي، د هغوی مشورې ته له ناچارۍ نه غاړه کېښوده، ابو عبیده رضي الله عنه ته راغی او د صلحې غوښتنه یې وکړه، ابو عبیده رضي الله عنه د هغه د صلحې غوښتنه ومنله خو خالد رضي الله عنه د

ketabton.com - The Digital Library



صلحې له تړون نه خبر نه و، هغه په خپل خاص جنګي مهارت سره ختیځه دروازه ماته کړه او ښار ته له خپلو تورزنو سره ورننوت په یوه شیبه کې یې د اسلام په زرګونو دښمنان له تورو تېر کړل.

ابو عبیده رضي الله عنه چې دمشق ته د خالد رضي الله عنه له ننوتلو نه خبر شو نو سمدلاسه یې هغه د صلحې له تړون نه خبر کړ، خالد رضي الله عنه په دې خبره حیران شو چې دا څنګه صلحه شوه، مور خو ښار ته د تورې په زور را ننوتلي یو، خو په پای کې دا پرېکړه وشوه چې توما او د هغه ملګري دې له کلا نه ووځي، په دې توګه د دمشق ښار د اسلام د ننګیالیو مجاهدینو په لاس فتحه شو د دې پر تمیني فتحې خبر د غنیمت له مال سره د اسلامي خلافت مرکز ته واستول شو.

د خلافت مرکز ته د استازي له رسیدو نه څو ورځې د مخه امیرالمؤمنین ابوبکرصدیق رضي الله عنه وفات شوی وه او د هغه پر ځای عمر رضي الله عنه د خلافت چارې سنبال کړې وي هغه چې د دغې سترې فتحې خبر واورېده نو ډېر خوښ شو.

## د شام عامل

د اسلام د دغه ستر فاتح او مجاهد جنرال خالد بن ولید رضي الله عنه د تورې په خرپ سره تر شپاړسم هجري کال پورې ټول شام د اسلامي خلافت یوه برخه شوه، د شام تر فتحه کولو وروسته د دې خبرې لپاره هم ضرورت و، چې هلته د خلافت له خوا نه یو تورزن او مدبر حاکم وټاکل شي چې دغه نوی مسلمانه سیمه اداره او کنترول کړای شي، په دغه کار کې هم خالد رضي الله عنه پوره پوره برخه واخیستله، د شام خلکو ته که د خالد رضي الله عنه د تورې جوهر د جګړې په میدان کې ښکاره او تثبیت شوی و نو، د

ketabton.com - The Digital Library



حکومت په تدبر او سالمه اداره کې هم د هغه په اسلامي اخلاقو او جوهر معترف شول، خالد رضي الله عنه د اسلامي خلافت د دربار له خوا نه د شام د هغې برخې عامل يعنې ستر حاکم وټاکل شو چې د روم د پاچا هرقل د امپراطورۍ بريدونه ترې نه پيل کيږي، خالد رضي الله عنه په دغه سرحدي سيمه کې چې کلونه کلونه يې د روميانو د برچې او نېزې تر سيورې لاندې ژوند کړی وه داسې نظم او انتظام منځته راوسته چې هيڅکله هم چا د فتنې او شرارت را منځ ته کولو ته زړه ښه نه کړای شو.

خالد رضي الله عنه کابو په يو سلو پنځه ويشت (۱۲۵) جګړو کې ګډون کړی وه، حملې يې کړي دي او مقابلې يې کړي دي، د هغه وخت حمله او يا دفاعي مقابله هم د نن ورځې د جنرالانو په څېر نه وه چې د ميز پر سر د جګړې نقشه او پلان جوړ کړي او په خپله ورته په کوم ګوښه ځای (Operation Room) يا د عملياتو خونه کې بې غمه او خوندي ناست وي.

د خالد رضي الله عنه زياتره جګړې داسې دي چې په هغو کې تر هر چا مخکې دی د جګړې ميدان ته ور وتلی دی او د دښمن له خطرناکو اتلانو سره يې پنجه ورکړې ده، د مؤته په جګړه کې د خالد رضي الله عنه په لاس کې نهه (۹) تورې ماتې شوې وې، لکه څنګه چې درنو لوستونکيو ولوستل په زياتره جګړو کې د هغه يوې خطرناکې او بريالۍ حملې او بې سارې شجاعت د جګړې د برې او ناکامۍ پريکړه کړې ده، د دښمن د لښکر د نومياليو سردارانو سرونه د خالد رضي الله عنه په لاس له سره بيل شوي دي او په نتيجه کې، د نور لښکر د ارادې ماڼۍ نړيدلې ده، د يوه روايت پر اساس د هغه په ټول وجود کې داسې ځای نه وه چې د زخم او ټپ نښه پرې نه وي، هغه ددې لپاره په دومره جوس او ځوږ جهاد کاوه او د دښمن د لښکر د تيرو تورو څنګل ته به يې ور دانګل چې د شهادت لوړ مقام يې په نصيب شي.

ketabton.com - The Digital Library



# د خالد رضي الله عنه غزل

په اولسم (۱۷) هجري کال کې د شام له فتحې نه وروسته د خالد رضي الله عنه د غزل مسئله هم يوه ډېره ستره پېښه ده.

په دغه برخه کې د عامو مورخينو نظر دا دی چې عمر رضي الله عنه د خلافت د چارو له سنبالولو سره سم لومړی حکم د خالد رضي الله عنه د معزولۍ په برخه کې صادر کړ، خو دا خبره سمه نه ښکاري.

حقيقت دا دی چې عمر رضي الله عنه له ډيرې مودې راهيسې د خالد رضي الله عنه د ځينې بې اعتداليو له امله ناراضه وو، خو سره له دې يې هم د خلافت په پيل کې هغه ته هيڅ هم ونه ويل د خالد رضي الله عنه دا عادت وو چې د لښکر د خرڅ او مصارفو پاڼې او اسناد به يې د خلافت دربار ته نه لېږل له همدې امله عمر رضي الله عنه هغه ته وليکل چې په راتلونکي کې دې مسئلې ته پاملرنه وکړې خو په ځواب کې خالد رضي الله عنه ورته ليکلي وو چې زه د ابوبکر رضي الله عنه له زمانې راهيسې همداسې کوم اوس له خپل پخواني عمل نه نشم او وښتلای څرګنده خبره ده چې د عمر رضي الله عنه په څېر خليفه دغه راز خود مختارۍ نشوای زغملای په داسې حال کې چې د بيت المال د پيسو مسئله هم په کې وي، له همدې امله يې خالد رضي الله عنه ته وليکل چې ته يوازې په دې شرط سپه سالار پاتې کيدای شې چې د پوځ د مصارفو حساب تل د خلافت مرکز ته را واستوي خالد رضي الله عنه دغه شرط نه و منلی همدا لامل و چې هغه يې د پوځ له سپه سالارۍ نه معزول کړ، حافظ ابن حجر رحمه الله دغه پيښه په الاصابه نومې کتاب کې د خالد رضي الله عنه د پېژندنې په برخه کې په تفصيل سره ليکلې ده، خو سره له دې يې هم هغه بالکل نه و معزول کړی بلکې د

ketabton.com - The Digital Library



ابوعبیده رضي الله عنه امین الامت تر قوماندې لاندې و.

تر دې وروسته په همدغه کال ۱۷ هجري ۶۳۸ میلا دي یوه بله پیښه داسې وشوه چې خالد رضي الله عنه یو شاعر ته لس زره روپۍ انعام ورکړ. کاتبانو دغه پیښه عمر رضي الله عنه ته ولیکله، عمر رضي الله عنه ابو عبیده بن الجراح رضي الله عنه ته ولیکل چې که خالد رضي الله عنه دغه پیسې له ځانه ورکړې وي نو اسراف یې کړی دی او که د بیت المال له پیسو نه یې ورکړې وي نو خیانت یې کړی دی، په دواړو صورتونو کې د عزل وړ دی.

د خالد رضي الله عنه د عزل کیفیت هم د اوریدو وړ دی. د خلافت هغه استازي چې د خالد رضي الله عنه د عزل مکتوب راوړی وه، له هغه نه یې په عام مجلس کې پوښتنه وکړه، چې: دا انعام تا له کوم ځایه ورکړ؟ که خالد رضي الله عنه په خپله تېروتنه اقرار کړی وای نو د عمر رضي الله عنه حکم دا و چې له سزا نه یې تېر شي، خو هغه د خپلې تېروتنې منلو ته چمتو نه و، د خلافت استازي مجبوراً د عزل د علامې په توګه د هغه له سره خولۍ راښکته کړه او د هغه د سر غړونې په توګه یې د هغه پګړۍ د هغه له غاړې نه تاوه کړه.

د دې پیښې ساری د نړۍ په تا ریخو کې نه لیدل کېږي چې دومره ستر سپه سالار چې ساری یې په ټوله اسلامي نړۍ کې لا څه چې په ګرده نړۍ که هم نه لېدل کیده او هغه چې تورې او میړانې یې د ارتداد د وخت د فتنې ریښې داسې له بیخه ایستلې وې چې تر مودو مودو پورې یې چا نوم پر خوله نشوای اخیستلای.

هغه چې د تورې خرپ یې تل د جګړې نقشه او مخه د اسلام په ګټه بدله کړې وه. هغه چې د کفر په وړاندې یې په (۱۲۵) یو سلو پنځه ویشت جګړو کې برخه اخیستې وه، هغه چې په تورې سره یې د شام او عراق د قسمت پرېکړه شوې وه او بالاخره هغه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د

ketabton.com - The Digital Library



سيف الله لقب ورکړی وه.

هغه ته نن د خلافت د يوه معمولي استازي له خوا نه د خپل فاتح لښکر په منځ کې په دې توګه سزا ورکول کېده او د هغه له خولې نه اه او سپن قدرې هم ونه وت، دغه پېښه له څو اړخه د غور وړ ده.

له يوې خوا نه خو د دومره ستر سپه سالار نيک نفسي او حق پرستي ښيي، له بلې خوا نه د عمر رضي الله عنه خلافت د عدالت، د نظم او دسپلين برم او جلال ښيي، چې خالد رضي الله عنه د عراق او شام فاتح د يو سلو پنځه ويشت (١٢٥) جګړو فاتح جنرال سره حساب کولای شي او هغه ورته غاړه ږدي، له دې پېښې نه د دغه وخت د اسلام د مجاهدينو د شرعي اطاعت احساس هم ښه څرګند يدای شي.

خالد رضي الله عنه چې مدينې ته راغی نو د عمر رضي الله عنه حضور ته راغی او ورته ويې ويل: ای اميرالمؤمنين! قسم په الله جل جلاله تاسو زما په برخه کې انصاف نه دی کړی.

عمر رضي الله عنه ترې نه پوښتنه وکړه: تاسره دومره شته د کومه شول؟

خالد رضي الله عنه وويل دا ټول زما د غنيمت برخه ده که له اويازره روپيو نه چې زما برخه ده هر څومره زياتې شوې زه به هغه بيت المال ته تحويل کړم.

له حساب نه وروسته شل زره روپۍ زياتې شوې، سمدلاسه يې بيت المال ته تحويل کړې.

عمر رضي الله عنه د خالد رضي الله عنه په دغه شريفانه عمل ډېر خوښ شو او ورته ويې ويل: خالد! په الله جل جلاله قسم چې ته ماته ګران يې او زه ستا عزت هم کوم.

تر دې وروسته عمر رضي الله عنه خپلو ټولو عاملينو ته ليکونه ولېږل چې ما خالد رضي الله عنه د خيانت له امله نه دی معزول کړی او نه ترې نه زه

ketabton.com - The Digital Library



ناراضه یم ربښتیا خبره دا ده چې له ډیرې مودې راهیسې لیدل چې ورځ په ورځ ورسره د خلکو مینه د یو فاتح سپه سالار په توګه زیاتیږي، ما له دې امله د هغه معزولول غوره وګڼل چې خلک په دې پوه شي هر څه الله جل جلاله کوي. د دغو پېښو په نظر کې نیولو سره یوه نکته سنج او دقیق سړی په اسانۍ سره پوهیدلای شي چې د خالد رضي الله عنه عزل اسباب او عوامل څه وو او څه مصالح پکې پټ وو

خو خالد رضي الله عنه د هغه په لښکر کې د یوه ځلانده او فاتح ستوري په حیث ځلیده او تر پخوانې لازیات ایثار او قربانۍ یې په هر جګړه کې ښندله

## د خالد رضي الله عنه وفات

خالد سیف الله رضي الله عنه به د ژوند په پای کې هر چاته خپل زخمونه ورښودل اوویل به یې، افسوس زه داسې مرم لکه کوم ډارن انسان چې ومري او یا کوم اوښ خپلې وروستۍ سلګۍ وهي، زما ارزو دا وه چې زه د جګړې په میدان کې شهید شم

د اسلامي نړۍ دغه ستر مجاهد او فاتح جنرال، خالد بن ولید رضي الله عنه د شهادت په اسره له دې فاني دنیا نه نیمه خوا ولاړ او په ۲۱ هجري کال کې د خپل حقیقي خالق حضور ته ورغی

امیر المؤمنین عمر فاروق رضي الله عنه د توریالي خالد رضي الله عنه په مړینه ډیر خواشیني و، اوښکې یې بالکل نه دریدلې، ویې فرمایل:

دغه زیان د ټولو مسلمانانو لپاره د تلافي او جبران وړنه دی، هغه خالد رضي الله عنه د اسلام لپاره ستره فاتح او د دښمنانو لپاره یو ستر شکست او دهشت و. کله چې عمرفاروق رضي الله عنه د خالد رضي الله عنه جنازې ته حاضر شو نو پر مبارک مخ یې د اوښکو سیلاب را روان و

ketabton.com - The Digital Library



# ماحذونه


۱- القران الکريم

۲- اسدالغابه في معرفة الصحابه، ابن اثير ابي الحسن علي، د چاپ ځای دارابن حزم لبنان بيروت، د چاپ کال ۱۴۲۵ هـ ق.

۳- الاصابه في تميزالصحابه، ابن حجر العسقلاني ، د چاپ ځای دارالفکر لبنان بيروت، د چاپ کال ۱۴۲۸ هـ ق.

۴- البدايه والنهايه، ابن کثير ابي الفداء اسماعيل د چاپ ځای دارابن حزم لبنان بيروت د چاپ کال ۱۴۳۰ هـ ق.

۵- حياة الصحابه، کاندهلوي محمد يوسف، د چاپ ځای دارالحديث القاهره د چاپ کال ۱۴۲۸ هـ ق.

۶- روشن ستاره مفتي عبدالستار، د چاپ ځای اداره تاليفات اشرفيه ملتان پاکستان ، د چاپ کال ۲۰۰۸ م

۷- د اسلام څلور ستر فاتحين، ستانکزی محمد نسيم ، د چاپ ځای مسلم خپرندويه ټولنه جلال اباد د چاپ کال ۱۳۹۴ هـ ش.


ن


۱۳۹۷/۵/۱۱ نیټه ساعت AM12:37

دلته دې کار مکمل شوه

پی ډي اېف کوونکی: عزت الله سلطانزی

Fb: EzatUllah sUlTanzai

ketabton.com - The Digital Library




چاپ چارې:
د مسلم خیرندویه ټولنې تخنیکي څانګه
۰۷۹۲۰۳۰۶۷۷ - ۰۷۹۳۰۷۳۰۸۰
muslim_pub@yahoo.com

Designed by: Ab. Hadi Asar

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*